# دنجات اوکامیابی لیاره

# دعلم او فلسفی له پلوه !



Ketabton.com

دوکتورمحمد سعید « سعید افغاني »

مهتمم : امین الدین سعیدی «سعید افغانی »

دوهم چاپ

دحق د لاري کلتوري مرکز

جرمني – د ۱۳۹۵ هجري شمسي کال د حمل – وری میاشت

۲۰۱۷ زیږدیز کال د اپریل میاشت (©)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

## سریزه

**الحمد لله و کفی و الصلوة والسلام علی عباده الذین اصطفی اما بعد:**

گرانو ورونو ،خویندواوعزیزانو زه محمد سعید « سعید افغانی» د مولنا عبد المجید «صافی » ځوی دافغانستان د مشرقي د لغمان د عمرزایو په علاقه کې د خیر آباد په کلي کښې ځیږیدلی اوسیدونکی یم.

زه پدی پوهیږم چه تاسو په ما ډیر حقوق لری او خپل مسئوولیت تریوی اندازی پیژنم.

زه مقریم ما په خپل حیات کښې داسې یوڅه خدمت ونه کړای شو چه هغه د ستاسو د حقوقو د اداء په حساب کې متناسب وشمېرل شي.

**هو**: زه مقریم چه قاصر یم مگر په دې فکر کښې اوس دی پړاو او مرحلې ته رسیدلای یم چه قلم را اخلم د حکمت، اخلاقو او علومود تأریخ د موثوقو کتابو مطالعی څخه وروسته د فکر او تعقل ځینې څه لیکم او په ضمن کښې یو څه خپلې تجربې او معلومات او ارزونې هم پری زیاتوم اودرسره شریکوم.

زه پدې کتاب کښې غواړم چه د روحي او نفسي مهمو امراضوعلاج او اجتماعي لیاربښونې راټولې کړم. د دې امراضو علل او مناشي پیدا او بیا د هغی په مناسبت د مرض معالجه وښیم مقصد مې په کښې همغه دی چه گوندې که یو څه په خدمت کښې حساب شي. که څه هم په هر شي کښې ښه نیت د ثواب موجب گرځي، او د نیت برابرول گران کار دی لیکن زه د قادر او مقتدر ذات ځینې ددې التماس کوم چه د کتاب د ښه والی په آثر زما په نیت کښې څه غل او غش که وي په خپل فضل او کرم ئې سره د نورو ټولو گناهونو عفوه کړي.

هیله لرم چه د دې کتاب په واسطی د ټول بشر او علی الخصوص افغانستان ته زیات خیرونه ورسوي او د ملت په کټه ئی تمام کړي.

زه پدی وسیله دالله پاک ځینی داهم غواړم او استدعا لرم چه قول مو دعمل سره برابر ، پوهان مود نا پوهان مربي اونا پوهانو مود پوهانو مطیع او فرمان قبلونکي وکرځوي. او په ښه کار او عمل مود دنیا او د آخرت دسعادت لو یو مراتبو ته ورسوي.

**آمین یارب العلمین**

**الهي: ته مو په دغه خیر کار کی کامیاب اوموافق او زموږ د ژوند روانه قافله پوره تر مطلبه ورسوې.**

**دکتور محمد سعید « سعید افغاني»**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د بشر سعادت په څه کې دی؟

ګران لوستونکي به د دې پوښتنې د ځواب د پاره هريو ځانله څه په خيال کښې لري.
**هو**: د پوهانو فکر يو وخت داسې مرتبې ته رسيږي چه واړه واړه شيانو ته اهميت نه ورکوي او په تدريجي صورت سره د کور ځينې کلي ته اود کلي ځينې قريې ته اود قريې ځينې علاقې ته او د علاقې ځينی سمت ته اود سمت ځينې مملکت او وطن ته اود وطن ځينې نړۍ او دنيا ته د فکر وړانګې او پلوشې خپروي او د دنيا اصلاح، اتحاد، ترقي او آرامي د نظر لاندې راولي. دارنګه افکار د هغو اشخاصو په نصيب کيږي کوم چه د دوی اصلاحي سير او حرکت ځينې د ښې تربيې په مرسته مخ په انسانيت روان وي.
په ياد لرئ کوم هغه وطن ،ټولنه او جامعه چه هلته پوهان خپل مسئوليت پيژني په داسې ټولنه، جامعه او وطن کښې خلک ډير د روښانه احساساتو خاوندان وي، دعمل اوعامل اساس او بنياد ئې او د حيات او ژوند ثانئ او دقيقې ئې ټول داصلاحي افکارو او د بشرد سعادت د تارونو ځينې پوده او تنسته سازوي.
شک نه شته چه که نن په دنيا کي له يوې خوا سخت زور او ظلم د سياست په طلسمي پرده کښې رنګا رنګ چلونه او چا نسونه روان دي ليکن له بلې خوا آه او فريادونه شته او د بشر د حقوقو او د آزادۍ، آرامۍ او سعادت د پاره ئې خبرې اترې اوريدل کيږي.
که څه هم په زړونو کښې به هر څه وي او افکار به د حرص به مرض عليل وي، ليکن حقيقت دا دی چه ځينې خلک د بشر د سعادت آوازونه هم پورته کوي او داهم ده چه په دې آوازونو کښې د دنيا مصلح سياسيون تبصرې کوي او په تبصرو سره پوشيده او مرموزه اسرار او اعراض کشفوي او وائي چه په دا خبرې کښې دا مقصد دی او په دا کښې دا. بايد ووايم چه نن په دنيا کښې له يوې خوا سخت روحي امراض او اجتماعی مفاسد ليدل کيږي او له بلې خوا د پوهانو هلې او ځلې قابل ترحم معلوميږي.
بيا هم نا اميدي په کار نده او دومره بايد مأيوسه نشو چه د بشر د سعادت د پاره به هيڅ نکړو او دا ځکه چه قدرت د هر انسان به خټه او سرشت کښې متضادې قواوې تخليق کړې دي.
**هو!** بخل، حسد، حرص، کينه ، ظلم، تعدي، غدر، خيانت او داسې نور علمي، اخلاقي، اجتماعي، ادبي، او سياسي مفاسد او خطاوې که د حضرت انسان ځينې ترشح او بروز کوي، لکن رښتيا خبره داده چه په همدا انسان کښې دا ځواک، قوت، طاقت او صفت هم شته چه د عاجزانو سره مرسته کوي او دخپل لاس کټه او حاصل د خلکو په رفاه او آسايش کښې مصرفوي او د خلکو د خطاوو ځينی عفوه لري او دعفوې ځينې وروسته بيا په صاف زړه محبت او خدمت کوي.
همدا انسان دی چه د انسان د پاره ئې علمي، اخلاقي، اجتماعي، ادبي او سياسي لياري او پانګې پيدا کړي او د تمدن او د اجتماع په برکت ئې انسان د وحشت او بربريت ځينې خلاص او په علمي، فني، زراعتي او اقتصادي چار و سره ئې د حيات په مستريحو مراحلو او مراتبو پوه او خبر کړو.
مقصد دا چه که څه هم په انسان کښې منفي قواوې شته او دا منفي قواوې کله شدت او غليان

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري او د دنيا هوا تاريکوي، ليکن د انسان سره لکه چه مخکې مو وويلې، دا قوت او طاقت هم شته چه د مثبتو قواو په برکت د حيات فضاء صافوي او د بشر د سعادت د پاره خدمت کوي.

**زما په عقيده چې دبشر حقيقي سعادت به هلته حاصل شي چې ماديت او روحانيت تعادلي رنګ قبول کړي.**

**ځکه دا فکر غلطه دی چې دنيا يوازې د ماديت په اساس قائمه ده او هرڅه به په همدې کښې دي چه مادي شيان لوړ شي. همدا رنګه دا هم صحيح نه ده چه په د نيا کښې به يوازې روحانيت د حيات اساس وي نه بلکه بايد دا دواړه په تعادل سره صورت او اساس پيدا کړي.**

**نو پدې اساس د دنيا پوهان دې د ماديت او روحانيت د تعادل د پاره خدمت وکړي او د روحي او نفسي مهمو امراضو دې په ښه شان سره علاج او اجتماعي ليارښوني وکړي.**

## د قهر او غضب علاج:

څنګه چه ليدل کيږي د دنيا اکثرې بې نظمی د قهر او غصي اثرات دي. نو ځکه د هرڅه نه اول د قهر او غصي اساسي چاره په کارده.

قهر او غضب يو داسی نفساني کيفيت او مرض دی چه په داسې وقت کښې روح او د بدن حيواني قواوې له دننه وجود ځينې بيرون خوا ته دوتلو حرکت او فعاليت او جديت کوي او د دې رنځ او مرض سبب او علت د هغه انتقام اخستلو حس دې چه په مغز و کښې د کومې موجبې له اثره پيدا شوای دی او کله چه دا قسم حرکت او فعاليت زيات قوت او شدت مونده کړي نو پداسې وخت کښې دماغ او عصاب چه د نفساني روح د تک او راتګ ځای دی ديو تاريک او مظلم دود ځينې ډک شي او د دغه دود دتاريکۍ له امله د عقل نور په پرده کښې واقع شي ترڅو د فعاليت او ليارښووني ځينې ولويږي. بايد ووايو چه د غضب د آخرې مرحلې علاج مشکل ښکاري ځکه که هر څومره نصيحت او منت وشي هغو مره د غضب اور په اشتعال او لمبو راځي مګر دومره کيدلای شي که غضب ناک سړی په دا وخت کښې خپلې وضعی ته تغير ورکړي يعني ناستې ځينې ولاړې ته او د ولاړې ځينې ناستې خواته انتقال وکړي نو د غضب شدت اوتيزی به يی څه لږشي.

**وايي:**

که دغضب په وخت کښې سړی يخې اوبه وسکي او يا ويده شي غضب به ئې تخفيف پيدا کړي.

دا بايد په يادولرو چه مزاجونه د غضب په وخت کښې په څلور ډوله دي.

1- ځينی مزاجونه کبريتي صفت لري چه د لږ څه واقعې په اثر اور اخلي.

2- ځينې بيا د وچ لرګيو په شانې په اشتعال کښې د کبريت ځينې بطي وي.

3- ځينې د غوړيو غوندې چه اول اور نه اخلي او که اخلي نو بيا لمبې وهي.

4- ځينې خلک بيا په ډيرې سختۍ قار کيږي او چه په قار شي نوبيا بالکل انفلاق کوي.

همدا وجه ده چه د غضب د څلورم قسم ځينې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم خلک ويرولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. فرما يي « ایاکم و غضب الحلیم » دحليم سړي د قهر ځېني وويرېږي.
په حديث شريف کښې راغلي چه بنى آدمان په غضب کښې څلور طبقې دي.
1- ځغرده په قاريږي او ځغرده د قهر ځېني کرځي.
2- وروسته په قاريږي او ځغرده منحرف کيږي.
3- وروسته په قاريږي او وروسته د قهر ځېني اوړي.
4- ځغرده په قاريږي او ډير وروسته د قار ځېني خلاصيږي.
بهتر خلک هغه کسان دي چه د دوهم قسم ځېني وي او بد ترين د خلکو هغه خلک دي چه د آخر قسم ځېني وي.

**امام غزالي رحمت الله عليه فرمايي:**

د دى له امله چه غضب داعتدال دحد ځېني سړى باسي نوځکه د قدرت خاوند ته په کار ده چه غضب په وخت کي دې په چا د عقوبت او امر نه صادروي. او داځکه نه چه د غضب په اثر د عدالت د اندازى ځېني تجاوز وکړي همداوجه وه چه اميرالمؤمنين حضرت عمر بن خطاب (رض) يو ورځى يو مست په مسکراتو نيشه سړى وليد. وې غوښتل چه په درو ئې ووهي مگر هغه چه دا وضعيت حس کړو نو په کنځلو ئې پيل وکړه همغه وه چه حضرت عمر فاروق (رض) ورته سزا ورنه کړه. وې ويلې زه ده په قهر او غضب راوستلم نو که په درو ئې ووهم، احتمال لري چه د قهر او غضب له امله به ئې ووهم، نه د خداى لپاره.

يو ورځ کوم مجرم سړي د حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمت الله عليه په حضور د بې ادبى په قواره خبرې وکړې. عمر بن عبدالعزيز وويلې که په قهر کړاى دې نه واى، نو په عقاب کړاې به مې وې.

اوس به رايشو ديته چه غضب او قهر د اسبابو او عللو له مخو تحليل کړو ترڅو د هرسبب په مناسبت علاج و اصلاحات وشي.

## څنګه چه ليدل کيږي د غضب اسباب لس دي:

(١) خپل ځان ليدل
(٢) فخر کول
(٣) په خبرو کښې تيزي
(۴) په خبره کښې ټينګيدل او مخالفت
(۵) ټوکي
(۶) تکبر
(٧) استهزاء او پر بل خندل
(٨) غدر او خيانت
(٩) دانتقام په صورت کښې ظلم کول
(١٠) بنو شيا نو پسې افراطي هڅه.

او کوم هغه عواقب چه د غضب څخه وروسته پيدا کيږي اوه دي.
(1) پښېماني

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) د انتقام او بدلې اخستلو ځېني ویره چه یا به ئې په دنیا اخلي او یا به ئې په آخرت کښې
(۳) د دوستانو دښمني
(۴) د اراذلو استهزاء
(۵) د دښمنانو خوښي
(۶) د قهر ځیني وروسته د مزاج تغیر
(۷) د غضب په حالت کښې درد او تکلیف

**حقیقت دا دی چه غضب د یو ساعت لیونتوب دی.**

حکماء وائي د غضب ناکو خلکو مزاج د اعتدال ځني زیات حرارت خوا ته مایل وي او که دا قسم مزاج دوام وکړي نو یو قسم جنون ترې پیښیږي چه هغه ته د اطباء و په اصطلاح کښې **سبعي** ( د درنده ګانو) جنون وائي.
حضرت علي کرم الله وجهه فرمائي تیزي ( یعني غضب) د جنون له اقسامو ځېنې ده که غضب ناکه سړی پښیمانه نه شي حتماً به دا جنون محکم شوای وي او د زیات غضب په اثر داسي هم کیږي چه کله روح د انقباض په اثر باندې سخت حرکت کوي او پدې اثر احتمال لري زړه چه د حیواني روح منبع دی خالي پاتې شي او کوم هغه روح چه زړه ځېنې اعضاو ته رسیږي او په هغه سره د انسان نورم راځي، قطع کیږي او داسې هم کله کیږي چه د غضب د حرارت به اثر د روح جوهر سوزي او یو ناڅاپه سړی مري.
او کله داسې هم کیږي چه کوم هغه اخلاطه چه د بدن د قوام د پاره زیات ضرورت لري وسوزي او ردیه امراض ترینه پیداشی او دوخت په تیریدو دهلاکت موجب ګرځي.
باید ومنو چه د غضب مرض سخت مرض دی نو ځکه کله چه حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ځېنی د نصیحت غوښتنه وکړه:
رسول صلی الله علیه وسلم په درې واری وویل چه د غضب ځېنې ځان وساتي.
د صحابه وځېني یو د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم حضور ته راغی، پوښتنه ئې وکړه چه دین څه شی دی:
رسول صلی الله علیه وسلم ورته په ځواب کښې و فرمایل چه دین ښه خوی دی. دا سړي بیا د رسول الله صلی الله وسلم ښي خواته راغی او همدا پوښتنه ئې وکړه. حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ورته همدا ځواب وویلې. په بل کرت دی د رسول صلی الله علیه وسلم د چپ پلوه راغی او همدا پوشتنه وکړه او همدا جواب ئې واورید.
په څلورم کرته د رسول صلی الله علیه وسلم د وروسته ځېنی راغی او پوښتنه ئې وکړه چه دین څه شی دی؟ رسول صلی الله علیه وسلم مخ ور وا ړولو او وې ویلې نه پوهیږي؟ دین دا دی چه په غضب او قهر نه شي.
په قرآن پاک کښې راغلي: **« والکاظمین الغیظو العافین عن الناس »** د خلکونه غضب علاج لکه د نورو امراضو په شاني د اسبابو په دفع کولو او محوه کولو راځي نوځکه دا دی چه مونږ لاندې ډول د مخکینیو لسو اسبابو په قلع او قمع کښې په ښکاره او واضح ډول بیان ته ادامه ورکوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

1 - که غضب د خپل ځان د لیدلو ځني وي یعني دا چه سړیته خپل ځان مجمع د فضائلو ښکاره شي او د نور چا اوصاف او محا مد ئي « نیک خصلتونه » هیڅ په نظر ورنه شي نو علامه به ئي دا وي چه دا رنګ خلک په خپل ځان په ماحول کښي مستغرق وي او چه لږ څوک د ده رضا ځینی تخلف وکړي په قهر او غضب کیږي به.
ددا ډول او قسم روحي مرض د پاره پوهانو په دا ډول علاج ښودلای دی. دا رنګه خلک دې لطفاً زغرده خپلو معائبو او نواقصو ته ځیرشي او لږ دا په فکر کښي راولي چې هیڅوک د نواقصو ځني خالي نه دي او انسان د نقصان ځېنې مخلص نه لري. او همیش دې دا په فکر کښي راولي چه حکیم حقیقي یو زره د موجودا تو ځېنې بې د کومي فائدې نه دي پیدا کړي او دا هر موجود چه مونږ ئي ګورود حکمت له امله پیدا شوي نو په دا وخت کښي به سړي ته دا په فکر کښې ورشي چه په هر موجود کښې یو کمال او حکمت شته دی چه په نورو کښي به شاید نوی. اویا به په نورونه پوره کیږي. هو د عالم په نظام کښي هر موجود د موجوداتو دخل لري.
۲- که غضب او قهر د فخر کولو ځېنې پیدا شوي وي یعني دا چې سړی په خپل ځان باندې فخر کوی او ددې فخر سره چه څوک مصادم وکني نود غضب مواد ئې په جوش راشي په داسي وخت باید د ارنګه فکر وکړای شي چه پر دنیا فخر کول خو یا د مال او یا دجمال او یاد نسب او یا د جاه له امله وي او په داسي شیانو باندی فخر کول دعاقل او پوه سړي او انسان کار ندی ځکه چه مال نن شته او سبا نشته او هرڅوک ئې لري. جمال اوښایست خوهم باقی او دایم ندی ملکه د مزاج په بد لیدو او د مرض په عارض سره ډیر ښایسته رنګونه تور کودی ګرځي نسبت هم د فخر کولو لایق ندي ځکه:

**هغه ناوی چه په ځان ښایسته نوي**
**څه په کار لري ښایست د مور اونیا**

او که یو څوک داسې جناب ته چه یواځې په پلار او نیکه نازیږي ووائي: آشنا دا صفت خو د ستا صفت ندی دا خودې دپلار او نیکه صفت دی، نه پوهیږم به په جواب کښي څه ووائي او که فرضاً پلار او نیکه ئي حاضر شي او ووائي چه دا ځما صفت دی ستا صفت ندی، نو ځوی به څه وکړي؟ او کیږي چې د ده د پلار او نیکه همځولي دده د پلار او نیکه ځېنې هم په ښه اوصافو کښي زیات وي نو عاقل او پوه سړی ته هیڅ دا نه ښايي چه د بل چا په صفت ونازیږي بلکه که څوک واقعاً د فخر دعوه لري نو خپل ځان دې ښه کړي ځکه خپل لږ صفت د پلار او نیکه د ډیر صفت نه زیات قیمت لري. یو عربي شاعر وایي:

**انا افتخرتُ باباء معنوا سلفا + قلناصدقت ولکن بئسما ولد وا**

که ته په هغه پلرونو چه مخکي تیرشوي فخر کوې نو مونږ وایو چه رښتیا د ستا پلرونه ښه خلک وو لکن نا اهله یې ځیږ ولي دي.
حضرت رسول صلی الله علیه وسلم فرمایي« **لاتأتونی بانسابکم و أتونی اعمالکم** » ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په انسابو خپلو مه راځئ بلکه په اعمالو خپلو سره رایشئ. یعني زما په نزد د انسابو قیمت نشته بلکه داعمالو قیمت دي حضرت علی کرم الله وجهه په یو قطعه شعر سره فرمایي:

**انا ابن نفسی وکنیتی ادبی + من عجم کنت او من العرب**
**آن الفتی من یقول ها اناذ + لیس الفتی من یقول کان ابی**

وایي زه ځوی د خپل ځان یم او کنیه زما ادب دی. فرق نه کوي که د عربو ځېنی یم او که عجمو او دا ځکه چه سړی هغه دی چه ووایي زه داسې او داسې یم. هو هغه سړی کامل ندی چه وایي پلار مې داسې او داسې.
حکایت دی چه د یونان کوم یو رئیس په یو غلام باندې فخر کولو غلام ورته وویلې چه که دا فخر دې ددې ښو کالیو د اغستلو له امله وي نو دا صفت خو د کالیو دی د ستا نه دی. او که په دا د سورلی چالاکو شیانو باندی فخر کوې دا صفت خو هم د ستا نشو او که په خپلو پلرو باندې نازیږې نو د صفت وړخو دې پلرونه شول نه ته. یعنې په خپله کوم صفت نلرې او په تاکې دا ټول صفتونه د بل چا دي او که پلرونه دی خپل صفتونه در نه واخلی په تا کی به څه پاتی شی؟
داوه د هغه چا علاج چه دفخر کولو په مرض مبتلا وی . او که سره د دی دکوم سړی په خپل ځان باندی
د فخر کولو عادت ځنی زړه نه صبرېږی نو دا دی هم واوری:
( کس نه گوید که دوغ من ترش است) هو .

**مشک آن است که خود ببوید + نه آنکه عطار گوید.**

3- په خبرو کې تیزي لرل یعني دا چه سړی په خبرو کښې د مقابل او مخاطب د حقوقو مراعات نه ساتي او چه د مخاطب له خوا نه په نه منلو سره مخامخ شي نو د قهر او غضب تیل یې اور اخلي.
4- په خبرو کښې ټینګیدل یعني دا چه سړی په هره خبر کښی د لا نسلم په غونډۍ ناست وي او لکه د ژرې غوندې به حق او ناحق نښتی وي او چه څوک یې ښه استقبال ونکړي نو یو وار په غصه او عصبانیت پیل وکړي. ددې دواړو اسبابو علاج دادی چه سړی دې باید په دا پوه شي چه دا ډول صفت او عادت د محبت او الفت سلسله قطع کولای شي او قطع کوي او د وحدت او اتفاق انحلال راولي دا دواړه خصلته د انتظام د عالم د پاره مضر دي او زیات مفاسد لري.
سړی د هر چاپه انظاروکې مستبد او سر زوری معرفي کوي او هیڅ کله به په خپل مطلب نه بریالی کیږي. سړی باید فکر وکړي چې خبرې او جنګ سره فرق لري او په خبرو کې مطابقت د مقتضی د حال سره ضروري ده. دغه خبره د پوهانو په نزد زیات قیمت لري.
هو خبره دا نده چې هر څه به سړی وایي خواه ومنل شوه او که نه هو هرڅه ځانته لیاره لري او هر څه دپاره صورت په کاردی دا بده نده چې سړی په خبرو کې کله بل ته ځان تسلیم کړي بلکه دا بده ده چې د خبرو ځنې خواشنی پیدا شي او بد تاثیروکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5 - ټوقې کول یعني دا چې سړی په ټوقو او تقالو کې د حد څخه تجاوز وکړي او د ادب مراعات او روا او ناروا لحاظ ونه ساتي.
دا قِسم ټوقې بدې دي هو ټوقې چې په کې ناروا او تجاوز د اندازې څخه نوې بدې ندي.
لیکن داسی ټوقې چې سړی به په هیڅ شي بند او وازنوی بد عواقب لـری ډیر کرته داسې پیښه شوې چې اول ټوقه وي بیا پټاقه شي او یو تر بله سره لاسونه واچوي او دښمني ترې جوړې شي زه په دا کی زیات تجربه لرم او ډیر داسې وقایع مې لیدلي چې دبیځایه ټوقو په اثر د مرګ او خون خونی صحنه جوړه شوی ده او لا ترننه پورې یې روغه نده موندلې.
ښه دا نو ولې او په څه نو باید دا لازمه ده چې سړی څه د خولې څخه کاړي د عقل او فکر په سندان یې داسې وټکوي چې غل او غش هیڅ په کې پاتې نه شي هو زړه ته هر څه راځي او په فکر هرڅه تیریږي لکن هر څه د ویلو نه وي او نه هر څه د خوښی وړکرځي.
ټوقه خو سړی د دی د پاره کوي چې خپله او بل پرې خوښ شي نه دا چې دی او بل پرې خفه او ملول شي. که د سړي په ټوقوکې غرض دا وي چې خپله خوله وینجه کړي. نو د ټوقو د پاره حاجت نشته زما ورته اجازه ده چې همیش دې خوله وینجه ونیسي.
او که ټوقو کې مقصد دا وې چې دبل اوځان خسته توب او خفکان پرې لرې کړي نوباید د بل دحقوقو مراعات او لحاظ په خاطر کې ولري داسې څه د عقل او فکر په قوت او لطافت سره ووایي چې د درد دواء او خسته توب یې په خوښی بدل شي.
ټوقې او مسخرې فرق لري لکن ځیني خلک د ټوقو په دعوا د ټوقو څخه مسخرې جوړوي او په مجلس کې ځېنې خلک د مجلس د اشتراک څېنې پښیمانه کړي او دیته ئې اماده کړي که د طاقت او حوصلې څخه پوره شي نو بالمثل جواب ووایي او یا لـړایي ترینه جوړه کړي او د خوند په شخوند بدل کاندي او یو دماتم اجتماع ترینه پیدا شي.
6 - تکبر یعني دا چې سړی په خوله ددې دعواء کوي چې زه د بل څخه زیات یم که څه هم په زړه کې ددې معتقد وی او که نه په ما بین د تکبر او ځان لیدلو کې (غضب ) چې په اوله ماده کې تیر شو فرق دادی چې په غضب کې سړی په دې عقیدې وی چه زه د بل څخه زیات یم او په تکبر کې دعوا وې که څه هم په زړه کې ددی عقیده ونه لري چې د بل څخې زیات یم د تکبر د دعواء مدعیان هرڅه غواړی چې د دوی په خوښه وشی نو چې یی طبعیت مراعات یی ونه شی بیا نو په غضب او قهر لاس پوری کړی. اولاً ځان هم ملامت نه حسابوي او بل که څه هم معصوم وی ملامت کڼي او دی ته فکر نکوی چې شیطان کبر وکړو چې په لعنت شو.
هو کبر د الله جل جلاله او د غني ذات صفت دی او بنده چې سراسر محتاج او حیران او فقیر لاس په دوعا او تمنا دی ورته نه ښایي چې تکبر وکړي او ځان د بـل ورور او عزیز څخه لوړ وکڼي او د شیطان په صفت موصوف شي. په حدیث قدسی کې راغلي:
عن أبي هريرة قال: قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم: «**الكبرياء ردائي ، والعظمة إزاري ، فمن نازعني واحداً منهما قذفته في النار**» ( الحديث أصله في صحيح مسلم وأخرجه الإمام أحمد وأبو داود وابن ماجة وابن حبا نفي صحيحه وغيرهم صححه الألباني .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الله پاک فرمايي:**
کبر يعني غنا او بې پروايي زما څادر دی او عظمت زما پرتوک يعني تاثير لاندې دي
څوک چې زما سره دا دواړه صفتو کې مقابله وکړي خپل اورته به ئې داخل کړم.
توبه نعوذبالله، الله پاک دې سړي ته ددې دواړه صفتو څخه نجات ورکړي. په حديث شريف
کې راغلي چې متکبر خلک به په ورځ د قيامت کې په صورت د وړو او ضعيفو ميږتنو
جمع کيږي.
7- استهزاء او په بل خندل يعني دا چې سړيته د بل عزت په ذليله سترګه ښکاره شي او
په مجلس کې د هغه په حضور او يا بالغياب مسخرې ور پورې کوي. دا صفت اکثره د
هغه خلکو وظيفه ده چې خلک پرې خندوي او دا کار يو نوعه کمال خپل ګڼي او هميش په
دا وسيله سره غواړي چې د خلکو توجه ځانته جلب کړي چې د مقتدرو او دبډايانو الطاف
او پيرځوينه پرې وشي.
دا رنګه رذيل خوی له يوی خوا د بل خفکان موجب ګرځي او له بلې خوا که مقابل ورته
جواب ورکړي د ده دغضب او قهر عامل ګرځي.
دا رنګ خلک بايد فکر وکړي چې داسې اخلاق د انسان صفت او کمال نه کرځي. سړی بايد
چې په کمال او علم او فضل سره د خلکو په زړه کې ځان ځای کړي نه په مسخرو او
استهزاء سره او په علم او فضل او کمال او کار سره خپل رزق او روزی حاصله کړي نه
په دا قبيح صفت سره.
په حديث شريف کې راغلي چې په ورځ د قيامت کې به استهزاء کونکي دروازې د جنت ته
وغوښتل شي کله چې دوی هلته ورمنډې کړي. دروازې به پرې وتړل شي، بيا به د بلې
دروازې له خوا څخه وغوښتل شي، بيا چې هلته ورمنډې کړي، هغه به هم پرې وتړل شي
په همدا قسم سره به په دوی په صورت د استهزاء عذاب نازليږي.
8 - غدر او خيانت يعني دا چې سړی د خلکو سره دغدر او چل او چانس ژوند کوي او په
عهد او وعدې ولاړ نه وي غدر او خيانت که په هرڅه کې وي مذموم او قبيح صفت دی.
او په نزد د هيڅ عاقل ښه نه ښکاري. حضرت رسول اکرم صلی الله وسلم غدر او خيانت د
**منافيقينو د اوصافو څخه ګڼلی:**
فرمايي چې په ورځ د قيامت کې به غدر کونکي د پاره يو مخصوص بيرغ وي چې ددې
موقف خلک به ددې بيرغ په اثر خائن او غادر پيژني.
9- ظلم کول د انتقام په صورت:
**انتقام په درې قسمه دی:**
يو هغه دی چې څوک د چا څوک مړکړي او ورثه د هغه دی په مقابل د جنايت کې مړکړي،
دی قسم ته قصاص وايي. دوهم انتقام هغه دی چې يو سړی کومه بې ادبي وکړي او هغه بل
سړی د بې ادبي په اثر دی مړکړي. ديته ظلم کول د انتقام په صورت کې وايي دا رنګ
وضعيت چې سړی د حد څخه تجاوز وکړي بد دی.
د غضب او قهر سبب کرځي. سړی بايد اول دخلکو دګناهونو څخه عفوه وکړي او په دا
وسيله د لويو اشخاصو په حساب کې ځان راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت رسول صلی الله علیه وسلم فرمایی.« **وأحسن إلى من أساء إليك** » نیکي کوی د هغو اشخاصو سره چې دستاسو سره بدي کوي.

## بدي را بدي سهل باشد جزاء + اگر مردي أحسن الی من اساء

په انتقام کې باید سړی ډیر دقت وکړي نه چې کوم بې گناه سړی دل نشی او که بیاورته ښه معلومه شوه هلته بالمثل انتقام جائز لکن عفوه اولی ده په عفوه سره دښمن دوست کرځي او که مقابل عاقل وي دعفوې وضعیت ورته د انتقام نه سخت تماميږي.
لکه چې یو عاقل سړي ویلي « **رحم الاعداء اشد من جفوه الا احباء** » رحم او عفوه د دښمنانو ته سخته تماميږي د جفاء د دوستانو ځنې.
10- رغبت په طلب دنفائیسو مالونه کې دا چې د سړی محبوب او مطلوب همیش همدا وي چې کوم ښه شی او نادر مال چې چیرته وې ځما دې وي او که لري ئې نو محبت د هغه ئې دزړه ځنې چارپیروي. دا قسم صفت هم بد دی ځکه که چیرې داسې خلکو ته مطلو ب لاس ته نه ورځي او یا یې له لاسه ځنې ځي نو په غضب او قهر وی او چتې په چتې به خفه وي په صورت دوجود کې به د ساتنې په غم وي او په نه والی که به طلب او کشش په درد مبتلا وي. نو ځکه سړی باید چه هیڅ شي باندې زړه ونه تړي او نه هیڅ شی سوا د دین او ایمان او انسانیت او خدمت عامه ځنې د زړه د تړلو وړ وګڼي. حکایت دی چې کوم پاچا ته چا کومه بلوري قبه چې ډیر زیاته صفا وه او مهندسانو په کې د فن د اصولو سره سم ټول کمال ظاهر کړي وو. د تحفې په قسم را وړه دا قبه د پا چا ډیره خوښه شوه او زړه یې پرې ورکړه همیش به یې ددې په لیدلو خوښي کوله او په خپلو مخصوصه خزانه کې ئې ساتلې وه. تقدیر دا وکړه چې قبه تلف شوه او دعدم په میدان کې محوه، پاچا د دې واقعې د پیښیدو ځنې سخت په غم شو او همیش په فکر او سودا مبتلا شو که څه هم اراکینو د دولت به ښه نفیس جواهراولعلونه د ده په حضور کې راوړل لکن دده به پرې تسلي نه راتله او دقبې په یاد او غم کې اخر مجنون او لیونی شو او د مملکت انتظام او هستی او موجودیت ئې له لاسه لاړو داؤ د زړه ور کولو حال او په نفیسو شیانو باندی زړه بایلل چې نتیجه او اخردا شو. نو سړی باید چې په هر کار کې د اعتدال ځنې کار واخلي او په معتد له لیار روان شی هرچا که داعتدال په لباس ځان ملبس کړو او داعتدال ځنې ئې کارواخیست، صبر او حوصله او استقامت یې دلاس ځنې ورنکړه نو د غضب د مسمومو زهر ځنې به نجات مونده کړي. دا چې ځنې خلک وایي چې شدت او غضب د رجولیت او انسانیت بنسټ دی. دا هلته چه کوم شرعي او افتخاري سعادت که شدت او غضب ونکړي، محوه کیږي او بې دغضب او شدت ځنې په بلی لیاره د مقصد حصول متصور نوي. نو هلته حق دا دی که په غضب سره کار کیدلو ښه دی. حضرت رسول صلی الله علیه وسلم فرمایي:
دحلم، تحمل او حوصلی په صفت موصوف ؤو. په مقابل د شدائدو کښې به ئې حوصله او استقامت کولو ترڅو د کفارو له خوا په جنګ سره مجبور شوی ندی جنګ ئې ندی خوښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږی. فرمائیل به یې چې زړه ورترین او شجاع ترین دشجاعانو هغه شخص دی چې په حال د غضب کې د خپل نفس مالک وي.
رسول صلی الله علیه وسلم د یوې غـزا ( تبوک ) څنې وکرځیده، صحابه ( رض الله تعالی عنهم اجمعین) ته یې و فرمایـل **« رجعنا من الجهاد الأصغر ، إلي الجهاد الأكبر »** وایي مونږ وکرځیدلو د وړوکي غزا څنې یعنې د کفارو د مقابلې نه لویې غزا ته هغه د نفس سره غزا او مقابله ده.
د نفس غزا ته حضرت څکه لویه غـزا ویلې چې نفس کله اصلاح شي نو هر څه اصلاح کیدونکي دي. همدا وجه ده چې رسول صلی الله علیه وسلم فرمایی **« اعدی عدوک نفسک التی بین جنبیک »** ( دښمن ترین د دښمنانو د سړي نفس دی چې په ما بین د دواړو ډو ډو دانسان کې ځای لري.)
څنې کم عقله خلک په عاجزو حیواناتو او مرغانو هم قاریږي او بلکه په بې روحه أشیاءُ باندې هم ډیر لیدل شوي چې په غضب راځي. لکه مثلاً چې پښه یې په لوټه او ډبره باندې ولږیږي نو په لوټه او ډبره باندې په قاریـږي. دا قسم خلکو ته به سړی څه وایي؟ دا رنګه اشخاص اکثره په ځوررورو کې پیدا کیږي او په بې عقله او بې مغزه خلکو کې زیات لیدل شوي.
**هـو:** ماه نورمی فشاند و سگ بانگ میزند + سگ را بپرس خشم توبا ماهتاب چیست؟
په ښځو او زړو او وړو او مریضانو کې هم دا رنګ اوصاف موندلی شی چې بې موجبه په قاریږي ،لکن هغی قابل المراعات دي.
حریص او بخیل څنې هم چې څه ضایع او مصرف شي چټي پټي قهر او غضب ورځي. لکن خدای دې ورته هدایت ورکړي.
خلص عواقب د غضب او قهردادي چې د بدن او وجود د پاره زهر قاتل د انسانیت او سړیتوب لپاره مضر دی. غضب او قهر د صداقت او اعتماد له یوی خوا پورته کوی او له بلی خوا د ندامت او پښیمانی موجب کرځی .
یوه خلک اغماض اکرام او عفوه د ځان سره لازمه او ملزمه کرځوي په تاریخ کې چې سړی د نوابغو خلکو په سوانحو او ژوندلیک سترګې اچوي نو هلته په کې ضرور سړی د هغوی حلم او حوصله، صبر او استقامت په پوره پیمانې سره موندلای شي.
هو وایي کوم مجرم سړی د اسکندر په حضور راوستول شو، اسکندر په مقابل دده د جرم کې دعفوې څنې کار واخیستلو.
هو شاید دا به داسې ګناه او جرم وه چې د شخصیت د اسکندر پورې به یې تعلق درلود او یا به په عفوې سره دبل چا حقوق نه تلفیدل، مقصد دا چې اسکندر عفوه وکړه په دا مجلس کې دربارد یو معزیزینو ورته وویلې چې که ته زه وی، نو به مې مړکړی وه. اسکندر ورته په ځواب کې وویلې چې ته زه نه یم نو ځکه یې عفو کوم او نه یې مړکوم.

## د زړه سوړ والی:

انسان ته د ژوندانه په مد او جزر کې رنګارنګ پیښې په مخ ورځي چې په دا پیښو کې سړی او تودی په یو قسم او بل قسم محرومیتونه هم شته د فکر خرابي د اندامونو درد حیاتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشکلات خلاف الغرض او توقع شیان دا تول چې سره یوځای شي نو په ځینو انسانانو باندې د زړه د سوړوا لی مرض طاری کوي او دا هم د زړه د سوړوالی د مرض او رنځ په متعلق کې دحکماؤ لخوا تشخیص شوی.
کله چې ضعف د بدن د کومې موجبې له امله پیښ شي او برودت د بدن په قواو باندی استیلا پیدا کړي نو دا وخت هم د زړه سوړوالی پیدا کوي. د دې مرض د علاج د پاره د روحی او نفسي امراضو اطباؤ دا رنګ دوا تعین او تشخیص کړی.
**وایی** که د زړه د سوړ والی مرض د دینوی او حیاتی مشکلات له امله وی نو دعقل اومغز خلک دې یو وار د دنیا په تاریخ او د روز ګار په ګردش کوم چې په کې انسانان پّه مختلفو اقسامو ژوند کوي نظر واچوي نودا وخت به ورته معلومه شي چې په دنیا کې رنګارنګ تېېتر او جګ خلک دواړه لیدل کیږي.
څوک د جواري او وربشو د ډوډۍ په ارمان دي او پیـوندی جا مې هم ورته نرسیـږي او څوک په پولاو(پلو) او په وریښمینو جامو هم کبـر لري.
وروسته د داسی معلوماتو ځنې هغه سړی د معقول فکر خاوند دی چې دزړه داطمینان د پاره واړه او تیټ خلک د نظر لاندې نیسي او د کار او فعالیت د پاره دومره جدیت او سعیه کوي چې هیڅ کله خپل عزیز حیات په لهو او عبث نه تیر وي.
د ژوند او د حیات معنیٰ په حرکت او تپش کې ګوري او د سعادت امید په کار او عمل کې وینی.
مقصد دا چې پوهان د خپل زړه د سوړ والي د پاره په خپل معقول فکر سره علاج کوي او هیڅ کله دومره تأثر اومأیوسه نه کیـږي چې د هر څه ځنې لاس واخلي او بې لاسه او پښو شي.
او که د زړه سوړ والی د وجود امراضو په اثر وي یعنې دا چې کله د بدن په عمارت ضعف طاري شي او د برودت تاثیرات دومره زیات شي چې اخر دسړي ځنی د زړه واک او طاقت سلب او د سوړوالی په مرض مبتلاء شي.
او په رڼو رڼو سترګو هرڅه وینې لیکن هیڅ نه کوي د داسې مرض او رنځ د پاره د مقوی شیانو خوراک لازم دي او د ګرمو ماکولاتو، ادویه او خوراک ورته په کار دی .
وایي یو وخت منصور بن نوح چې والي د خراسان وه په درد د مفاصلو اخته شو. د وطن اطباؤ که هرڅومره علاج کولو لکن فایده او نتیجه یې هیڅ نه بـښله آخر د مملکت پوهانو داسې مشوره وکړه چې محمد ذکریا (رازي) چې یو ښه پوه حکیم دی او زیات په طب کې مهارت لري ودي غوښتل شي چې د پاچا علاج وکړي.
همغه وه چې د دی مشهور نابغه حکیم پسی نفر ولیږل شو، او نفر یو دا مشهور طبیب د ځان سره روان کړلو کله چې د قلزم دریاب تر څنګه ورسیدلو نو حکیم صاحب د بحر ځنې ویریدلو او د کشتی د سپریدلو ځنې متنفرو او هیڅ یې دیته ځان نشو نیولی چې په کشتی کې دې سپورشي.
اخر ور سره نفر مجبور شول او د دې پوه حکیم لاس او پښې یې وتړلې او په کشتې کې واچولو او د بحر نه یې تیرکړ. کله چې د پاچا په حضور کې ورسیدلونو که دا د وخت لایق حکیم هر څومره تداوی وکړه او ښی مجربې نسخې یې د پاچا د علاج د پاره مستعملې کړې. هیڅ فایده او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثمره یې ونه ښښله. اخر محمد ذکریا(رازی) منصور بن نوح ته وویلی چی که هر څو می د ستا
دبدن د صحت د پاره ډیرې ښې دوایي او عمیق فکرونه او د طب تجربی په کار واچولی فایده
یې ونکړه. اوس نو یوازې نفساني او روحاني علاج پاتی دی که پری ښه شولی نو ښه بوی او
که نه سخته مأیوسی ده.
وروسته د دې ځنې حکیم مخکې د ځان سره یو خط ولیکلو او بیا یې امر و کړو چې حمام دې
زیات گرم شي او په حمام کې دې نور هیڅوک نه وي او بیرون د حمام نه دې یو ښه چالاک آس
وتړلی شي چې زه پاچا حمام ته بیایم د ده د امر په اثر حمام ښه گرم شو او حکیم صاحب پاچا د
ځان سره حمام ته بوتللو. کله چې پاچا حمام ته داخل شو او دځان په پاک والی بوخت شو دا
وخت حکیم صاحب یوه ښه تیره چوړکی ور پسی وښکله او مخامخ په پاچا ورغی هر څه یې
چې په خولې ورتـلو بد او رد یې پاچا ته وویلی او وې ویلې چې دا تا ورته ویلي و چې زه دې
په داسی ناوړه وضعیت سره د ستا حضور ته راوړی شم چې لاس او پښې یې را باندې وتړلې
او په ډیر حقیـرانه وضعیت سره په کشتې کې واچولی شوم اوس به نو زه د ستا سره گورم په
والله که دې ژوندی پرېږدم او چیرته به را نه خلاصیـږې.
پاچا چې په دا قسم سختی خبرې واوریدلې او په دا قسم وضعیت یې مشاهده کړو ډیرخفه شو او
د مرگ او ژوند صحنې سره یې ځان مخامخ ولیدلو هـو دا وخت سخت وخت دی.
د سړی د بدن ټولې قواوې په هیجان راځي نو ځکه د پاچا هم د بدن قواوې د حمام او د قهر د
حرارت په اثر سخت هیجان پیدا کړو او یو ناڅاپه د خپل ځای ځنې پاڅیدلو او سخت زیات د
ویرې قهر ورغی دا وخت نو حکیم صاحب ځغرده د حمام ځنې بیرون شو او خط یې یو سړیته
ورکړ او ورته یې وویلې چې په موافق د دی خط سره به پاچا د حمام ځنې ځغرده را باسي او
څه رنگه چې مې په خط کې لیکلي په هماغه قسم سره به یې علاج کوي دا یې وویلې او حکیم
صاحب چالا که په اس سپورشو او په یو قدم سره یې آس د ښار ځنې وویستلو او د منصور د
پاچا یي ځنې و تښتیده کله چې پاچا د حمام ځنې په هماغه اصولو سره چې حکیم صاحب لیکلی
و خارج کړل شو نو پاچا د وجع المفاصل د مرض ځنې صحت پیدا کړو او په روحي معالجې
سره یې تداوي وشوه وروسته د صحت د کامل والی ځنې که هر څو پاچا دا نابغه حکیم ته
جوابونه ولیـږل چې ته یو کرته راشه حکیم صاحب هیڅ حاضر نشو او په جواب کې ورته
ولیکل که څه هم دستا د صحت په مصلحت به مې کومې سختې خبرې کړې وي لکن د پاچا
دقهر ځنې وروسته د داسې وضعیت پیـښنو دی نه ډاډه کیدل غلطه ده ځکه چې پاچا سره قوت او
طاقت شته او مخه نیول یې گران کار دی. زه نه غواړم چې د ستاسو حضورته درشم او دا ځکه
نه چې د ستا په خیال کې یو ځل هغه زما له خوا بد او رد وگرځي او په کوم مشکل باندې مې
ککړ کړي.
زما په عقیده چې رښتیا به حکیم صاحب د همدې واهمې له امله بیرته نوی ورغلی او دا ځکه
چې داسې معلومیږي چې دحکیم صاحب وهمي قوت زیات ؤ.
همدا وجه وه چې د کشتی د سوریدلو ځنې لکه چې مخکې وویل شو هم ویریدولو.
اوس په راشو بیرته خپل اصلی مقصد ته چې د زړه د سوړ والی د مرض علاج دی دا مرض
زیات بد عواقب لري ځکه هر څه د زړه په قوت او حرارت سره کیږي هو زړه رئیس د اعضاؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی نو کله چې سوړ شي سړی هيڅ نه شي کولی او د غفلت دوران د بدن په هر عضوه باند ی طاری کيږی.

## غفلت

**که دې ډير عمر په کار وي غفلت مه کړه**
**په ويده باندې سل کاله يو زمان دی**
**« رحمان بابا »**

ربښتيا خبره دا ده چې غفلت د هغه او صافو څنې دی چې په انسان د ډيرو سختو مشکلاتو او پريشانيو سره مخامخ کوي.
پوه او کمال کار او عمل شهرت او اعتبار د دنيا او آخرت سعادت او اجتماعي او اخلاقي او ادبي او سياسي نهضت دی. تولو ترقياتو او افتخاراتو څنې سړی يو قلم محروموي.
**هو**: کوم هغه اشخاص چې هرڅه څنې غافله وي که څه هم سا او روح په کې ښکته او پورته کيږي ليکن په واقع کې دمړو او ياليونو په حساب دی. ځکه چې ژوند د حرکت نوم دی او ژوندی به هميش لاس او پښې خو ځوی او په خپل صحيح فکر او تعقل به د حياتي مشکلاتو سره لاس په گريوان او د خپلې جامعې او د وطن دکتې او فايدې د پاره په هڅه لري.
زمونږ دين او شريعت بشرته د سعی، کار او عمل، درس او رغبت ورکوي او دغفلت او ځانله په کنج او صومعه کې کيناستلو او د وخت تيرولو څنې نهی او منع کوي. الله جل جلاله فرمايي « **ليس لا انسان الا ماسعی** »د انسان د سعادت، ترقي او تعالي د پاره هيڅ کوم سبب بې د سعی او زحمت کاللو څنې نشته دی.
ددې آيت کريمه په معنیٰ کې چې سړی دقت او تعمق کوي نو ددې مطلقې نفی څنې چې په کلمه (ليس) سره راغلی دا معلوميږي چې انسان به هيڅ رنگه افتخارات او نيک مرغی بې د سعی څنې په غفلت سره لاس ته نشي راوستلی او د حضرت انسان وظيفه هم داده چې د خپلو مشکلاتو دحل د پاره او د حيات د صحنې د لوړوالې او ښه توب له امله به د ژوندانه يو دقيقه اوثانيه بيکاره نه پريږدي.
هو د ژوندانه هر دقيقه او ثانيه د آلماسو څنې زيات قيمت لري او د ژوندانه هره کړی د اجتماعي خدمت د پاره مساعده ده او په کې کيدلی شي چې سړی خپل قلبی روابط دحق پرستی سره محکم کړي او ناجايزه اقتضاآتو سره په کې مجادله وکړي.
سړی بايد خپل قيمتی وخت په لهو او عبث تيرنه کړي، ځکه د ژوند هره لحظه چې تيره شوه نو لاړه بيرته نه معاديږی.
همدا وجه ده چې پوهان خپل قيمتي وقت ته زيات اهميت ورکوي او په هيڅ ډول غفلت روا نه کڼي. نن کوم هغه جوامع چې مخ په ترقی روا نی دي. دوی د ژوندانه په معنی او حقيقت پوه شوي او د غفلت سره سخته مجادله کوي او د تنزل اسباب او مبادی او دغفلت علل او مناشی پيژنی او پوهان يی د تنزل د مرض د تعيين او تشخيص د پاره کار کوي او ددې مهلک مرض د قلع او قمع د پاره مخ په وړاندی ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو نن د دنیا پوهان په غافلو اشخاصو کې د کار او عمل روح پوکوي او استعدادونو په تربیه او علم او پوهې سره ظهور او بروز راولي.
د غفلت د مجادلې په لړ کې د اسلام د تاریخ زریني پاڼې سړي ته د کار او عمل دوا په یاد وي او په کې د ترقي او تعالي د پاره غټ علت د غفلت سره مجادله ویني.
هو مسلمانانو به ایثار او قرباني د غفلت او جهل په مقابل کې کولی او په ژوندانه کې د دوی عالي مقصد همداوي چې خلک د حقیقت په رڼا منور کړي.
اوس به رایشو دیته چې غفلت څنګه پیدا کیږي؟ د دې دا ځواب دی چې دا مرض د عیاشی او ځان ځاني او د خدای پاک د هیرولو او په خپل ځان غره کیدلو ځنې پیدا کیږي.
ځکه کوم هغه اشخاص چې له اندازې زیات عیاش شي او ټول فکر یې په خوړلو او اغوستلو او خوب کولو او د خپل استراحت په شا او خواکې مصروف وي او ددې غم نکوي چې خوړل او څکل او اغوستل او خوب او استراحت چې دوام او بقئ پیدا کوي. هلته چې په وطن کې څه وي او څه پیدا شي او په قوم او وطن او جامعه کې قوت او طاقت د ساتنې موجود شي او په محیط کې یو تر بله د نورو حیات او ژوند د ځان د حیات او ژوند دپاره علت او سبب وګڼي او که بالعکس په یوه جامعه او ټولنه کې خلک ټول په ځان مین او غره وي او هر چاته خپل عقل، فکر، کار، عمل، زور، قوت او طاقت د هر چا ځنې ښه قوي او محکم ښکاره کیږي او نور مخلوق ورته حیوان او څاروي معلوم شي نو دلته دا سړی د غفلت په یو طوفاني بحرکې ننوځي او دهلاکت سره مخامخ دی. که سړی سره دټولو اصلاحاتود خدای پاک ځنې غافله شي نو معلومیږي چې دا شخص په واقع کې ښه سخت په غافلیدودی. هو خپل ځان تری هیر دی خپل خالق نه پیژني حقیقت دا دی چې یوه سړی باید د دې رنګ خلکو په جل او بل تیر نه وځي.
پوهان د خپلو تجربو او د تاریخي حقو، معلوماتو په اثر په پوره یقین او تیقن د داسې خلکو جل او بل چې د خدای پاک د عبادت ځنې غافل دی د هلاک او خسران سره مخامخ ویني د غفلت سره به اساسي مجادله په څه شانې وشي.
د دې پوښتنې ځواب زما په عقیده دادی د غفلت سره اساسي مجادله په محکم عزم او پوره میړانې او په اخلاقي رنګ او د روحیاتو په پیژندنه او د جامعوی امراضو په تشخیص او د پوهانو په مرسته او کامل ثبات دا ټول چې د خدای پاک د ارادې سره یو ځای شي هلته نو سړی کولی شي چې په جامعه کې د حقیقي ژوند روح پو کړي او دغفلت سره اساسي مجادله وکړي.

## دحیران والې علاج

کله چې سړی په حیاتي مشکلاتو اخته کیږي او د ژوندانه د پیچلو حقایقو سره مخ په مخ کیږي نو دا وخت په انسان باندې یو قسم حالت طاري کیږي چې هغه ته حیرت وایي.
لکه مثلآیو سړی په اقتصادي مشکلاتو اخته وي او د ژوندانه هلې او زلی ئې دا نشي کولې چې د خپل کور ضروري شیان پوره کړي دا وخت نو دا سړی چورت وهي چې څه وکړي.
آه رښتیا په داسې ابتر وخت کې سړی ترهوره شي او ځمکه ځای نه ورکوي او اسباب د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارورته مهیا نه وي.
هو حقیقت دادی چې ډیرخلک کله چې د ژوندانه په مشکلاتو اخته شوي دي نو د دوی افکار دحیرت په طوفاني بحر کې د نجات وسایل نه مونده کوي. همدا وجه ده چې داسې افکار د سړی په روح باندې فشار راولي او د ژوندانه ګړۍ پرې ترخې تیریږي او خوف ددې په کې شته چې سړی سخت د مرض او جنون سره مخامخ شي.
ددې مرض او رنځ د علاج د پاره پوهان داسې فرمایي:
« په چا کې چې دحیرت د مرض مبادي پیدا شي هلته نو دا په کار ده چې یو ځلي حقیقت ته متوجه او په دا عقیدې شي چې صرف په فکر کولو څه نه کیږي تر څو د فکر سره کار او عمل ملګري ونه کړي.»
هو کله چې سړي ته د کار د اقدام دلایل متعارض ښکاره شول نو فکر دې وکړي چې ارجح یې کوم طرف ته دی چې په هماغه خوا لاړشي.
کله چې یې په منطقي دلایلو خپله او یا د یو پوه دوست په مشوره لیارې د نجات پیدا کړه نو په هماغه طرف ته دې د کار او عمل مخه کړي او په یو طرف دې پوره زور واچوی او په تقدیري پیښو دې هیڅ چورت هم نه خرا بوي او د ځان سره دې ووائي چې زما وظیفه خو کار او عمل دی او دا خو دادی چې د خپلې وسعې سره سم ئې کوم.
البته چې مثبته نتیجه نه ورکوي په دا کې به د پاک خدای حکمت وی زه به خپله وظیفه، کار اوعمل ته دوام ورکوم او په تقدیري پیښو به دومره فکر نه خرابوم، چې آخر د بدن او د وجود عمارت مې خراب او د مرګ او جنون سره مخامخ شم او دا ځکه چې الله پاک رازق او روزي ورکونکی او مشکل خلاصونکی دی، مقدر اجل په خپلې نیټې سره هرو مرو رسیږي چې ورنه د خلاصی مخلص نشته.
هو باید سړی په داسې وخت کې د ځان سره ووایي چې زه باید په خپل لاس ځان د حیرت په زهرو مسموم نه کړم. او خپل کار او عمل جدیت او فعالیت ته به دوام ورکوم.

## زه باید څه وکړم؟

له کوم سړي ځني لیاره د کار خطاء شوې وه په یو سخت مشکل باندې لټار او حیران وو چې څه وکړي. آخر یو پوه سړي ته یې مراجعه وکړه غوښته یې چې د هغه په مشورې او استشارې سره د خپل تګ لیاره معلومه کړي نو یې ورته وویلې چې په ما باندې داسې او داسې سخته راغلی هر څومره چې فکر وهم هیڅ نه شم معلومولی چې څه باید وکړم؟ غواړم چې ته را ته په خپل معقول فکر سره دا معلومه کړئ چې زه باید څه وکړم او دا ځکه چې زه پوهیږم چې ته پوهیږې تا سره تجربه شته عقل او منطق لرې ته که څه هم شاړ پاړ ښکارې او د عصر او زمانې په مود برابرنه یې بیا هم زه تا پیژنم چې ته څوک یې او تا سره څومره د کار او عقل استعداد شته؟ نو ځکه بیا هم عرض کوم او په ډیر احترام سره دستاسو د عالي فکر ځني غواړم چې زه باید څه وکړم.
دا پوه فیلسوف وروسته ددې ځني چې پوره یو ساعت فکر وهي او لاس په تندي مبني او کله نا کله ځمکه ګره وي او په غاښونو سره خپله ګوته چیچي مقصد دا چې وروسته د یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره وخت ځني پـه دا ډول ځواب وايي:
ګرانه داسې مه وايه او دا پوښتنه مه کوه چې زه باید څه وکړم او دا ځکه چې دا کارته یوازې نه شي کولی که څه هم ته په یوه ښه لیاره روان ئې لیکن چې نور در سره نوي او څوک دې ملګري ونه کړي هیڅ نه شي کولی.
د پښتو متل دی « له یوه لاسه ټک نه وځي» نو ښه داده چې داسې پوښتنه وکړي چې «زه باید څه وکړم؟ » او ته باید څه وکړي؟ او هغه باید څه وکړي؟
دا وخت نو که مادر ته دا دروښودلی شوه چې دا د ستا کار دی او دا زما، او هغه د هغه، او عمل مو پرې وکړو، بیا هر څه کیدلی شي او هر څه آسانه دي. په عالم اسباب کې نن خلکو داسې کارونه وکړل چې پرون هیچا دا منلی نه شوه.
**هو**: خلکو وکړل نه یوازی تا اوما، او هغه، دا ځکه چې قدرت نظام د عالم په اجتماع سره جوړ کړي او په همدا اجتماع سره به چلیـږي.
کوم هغه جوامع او ټولنې چې څومره د اجتماع په اسرارو پوهیدلی نو هغومره د کار په شواخون پوهیږي او د نن مشکلات به یې سبا آسانه وی او سبا به یې بل سبا.
**نوای زما زړګیه !** ته په دا مه خفه کیږه چې تا دا ونه کړی شو او په دا سودا کې یې چې د ناکامی علت مې دادی چه زه د کولو لیاره نه پیژنم.
نه ته د کولو لیاره پیژنئ او تا سره د کولو آرزو هم شته.
لیکن دومره ده چې ته غواړې چې په یو سرباندې هر څه وکړې.
نه ته داسې کوه چې د پوهانو په مرسته کار ته اقدام وکړه او په پوره اعتماد سره د کار باکفایتو خلکو ځنې کار واخله بیا به نو درته معلومه شي چې کار کیـږي او که نه ته به په خپله په دا پوه شي چې هر څه کیدونکي دي او هر څه کیـږي لیکن په دا قسم او د اجتماع په برکت.
داؤ د زه باید څه وکړم؟ ځواب: چې د معقول او تجربه لرونکي فکر ځنې یې بروز اوظهور کړي. د دې پوښتنې او ځواب ځنې د اجتماع ژوند پرمخ تک د پاره د نرئ په لاس ښه په زړه پورې مطالب او لیار ښووني راځي.
حقیقت دادی چې سړی یوازې په یوازې څه کولی نشي هرڅه په اشتراک المساعي سره حاصلیـږي. پدې ځواب کې د اعتماد د عبارت که څه هم ضمناً ویل شوي لکن یوه ښه با معنیٰ نکته ده. دا چې به ځواب کې یې داهم ویلي چې د کار با کفایتو خلکو ځنې کار واخله دا نصیحت که په سرو زرو ولیکل شي ارزي او که همیش په خپل فکر کې ورته ځای ورکړو، حق لري.
یاره زه خو د دی پوښتـنې او ځواب د اوریدلو ځنې دومره خوښ شوی یم چې په آخر کې د دی نومیالي فیلسوف دا د عقل ځنې ډکه جمله یو ځل بیا مکرر وم :
«ښه داده چې داسې پوښتنه وکړي چې زه باید څه وکړم؟ ته باید څه وکړئ؟ او هغه باید څه کړي؟» زه نور څه نه وایم. دومره وایم په رښتیا چې رښتیا یې ویلي.
**هو که ته ووایئ چې زه زه یم او ته ته، نه به ته یی او نه به زه، او که ووایی چی ته زه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**يم او زه ته، هم به ته ئې او هم به زه او هر څه به څمونږ وي.**

## د بسيطه جهل علاج!

يعنې د هغې نا پوهی علاج کوم چې انسان په کې په خپل علم او پوهې هم معتقد نوي دا مرض د ناپوهی مرض دی، چې په زده کړې سره محوه کيږي او د تحصيل په دوايي علاج کيدلی شي.
دا رنګ نا پوهی په ابتدا د عمر کې بده نده او هر سړی اول نه پوهيږي او بيا وروسته د سعيه او کوشش په اثر عالم او پوه شي.
هوکه سړی ابتدا پوه وي نو په ښوونځي، مکتب او مدرسی، تعليم او تعلم ته څه حاجت پاتې شي؟ نو معلومه شوه چې هر سړی اول عالم نوی ،لکن وروسته د تحصيل ځنې په يو څه پوه شي نو د ناپوهي مرض په ابتدا د عمر کې قبيح نه دی په زده کړې سره يې علاج کيدلی شي، او د پوهانو د پاره په کاردی چې د ناپوهانو د پاره به هميش د علم صفت او جهل مذمت کوي او د جهل د اضرارو دپاره به امثال اوشواهد او هغه ناکاری پيښی چې د جهل په اثر راځي خلکو ته بيانوي.
دادی چې په دې لاندې ډول سره به زه هم يو څه د علم او پوهی په صفت او دجهل په مذمت کې د ګرانو لوستونکو په حضور تقديم کړم :
انسان بايد فکر وکړي او په حال د انسان او دنورو حيواناتو کې عميق شي چې دا څه وجه ده چه انسان د نورو حيواناتو ځنې ممتاز او په قباء « **ولقدکرمنابنی آدم**» ملبس دی.
دا وخت به انسان ته داعقيده حاصله شي چه فضليت د انسان په نورو حيواناتو باندې په علم سره دی ، او په علم او پوهي سره انسان د عزت او اکرام منزلت حاصل کړی دی. له بلې خوا بايد انسان د جاهل او ناپوه حقيقت ته متوجه شي کوم چه هغه د علم په صفت سره متجلی او ښايسته نه وي نو دا وخت به دا ورته واضح شي چه جاهل په شمار د بې خولې حيواناتو کښې حسابيږي او د حيواناتو په شمار کښې دی.
همدا وجه ده چه جاهل او نا پوه کله چه د عقلاو، فضلاو او پوهانو مجلس ته حاضريږی او هغوی په علمي مسائلو کښې بحث کوي او اجتماعي، اخلاقي، سياسي، ادبي او مذهبي تحقيقات او توضيحات کوي، هلته جاهل په يو عالم سکوت مبتلا او په زړه کښې ئې د غم غوبل وي.
هو خبرې به نشي کولی او د بل په خبرو به نه پوهيږي او دجهالو او نا پوهانو مجلس به نوی چه د چټياتو او ناپرټيتو به وينا کښې جاهل هم څه فعاليت ښکاره کړي نوځکه جاهل د پوهانو په مجلس کښې زيات خفه او ملول وي.
حقيقت دا دی چه دا رنګه نا پوهان چه خپل قيمتي وخت يې عبث کړی وي او د مکتب او د مدرسې ځنې يې استفاده نه وی کړي او هميش په لهوه او لعب کښې يې خوند اخستی او د حيات په مرموزه اسرارو نه وي خبر نو د حيواناتو ځنې هم مبتر دی ځکه حيوانات خپل طبعي او خلقي قوت او طاقت کوم چه هغه د بل په واک او اختيار کښې دی دبل په ارادې په کار اچوي، په خلاف د ناپوه انسان ځنې ناپوه انسان خو خپل هغه استعداد چه دعلم او زده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې د پاره آماده وو په کار وانچول او ده دا ونه کړه چې په زيار او زحمت سره د علم په صفت موصوف او د جامعې او ټولنې د پاره د کار غړی شوی وي.
نو ځکه نا پوه انسان د حيوان لايعقل ځنې مبتردی، بلکه نا پوه انسان د جماداتونه هم ښکته دی ځکه جمادات تيره لوټه او داسې نور غير نامې او نه لويدونکې اجسام په خپل طبعي استعداد سره د انسان په اختيار کښې دي او ناپوه انسان خو خپل اختيار د بل په اختيار ورکړي او خپل په خپله يې خپل موجوديت لکه د جماد په شانې کړځولی.
همداوجه ده چه خدای پاک فرمائي: « **أُوْلَـئِكَ كَالأَنْعامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُوْلَـئِكَ هُمُ الْغافِلُونَ** » (د اعراف سوره، ۱۷۹ آيت).
د يونان ستر عالم او فيلسوف ارسطاطاليس ويلي که کوم ليدونکی (بينا) د يونابينا لاس ونيسی او دواړه په ځاکې ولويږي ، نو په شقاوت او بدبختی کښې خو دواړه شريک شول ، لکن نا بينا ددی له امله چه عاجز وو او استعداد د ليدلو ئې نه در لوده معذور اومرحوم شميرلی شي، او بينا ملامت او مقصر دی.
هو ده ته خدای پاک سترګې ورکړی وي عقل يې در لوده نو ځکه خپل عقل اوليدلو ته مقصر او ملامت دی.
**يو عربي شاعر وايي:**
**ولم ار فی عيوب الناس عيباً + كنقص القادرين على التمام**
وائي زه نه وينم په عيبو د خلکو کښې داسې عيب په شانی لکه چه نقص او عيب د قادرينو دی په تمام والی د کار باندې هو په رښتيا چه په اتفاق د صاحبانو د عقل او نقل هيڅ کوم فضيلت بې د علم نه حاصليږي. همدا وجه ده چه پاک الله خپل حبيب محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم ته فرمايي (قل رب زدنی علماً) وائي: ووايه چې ای مربي زما په علم کښې مې زياتوالی وکړئ.
کله چه حضرت عايشه رضی الله تعالی عنها رسول صلی الله عليه وسلم ځنې پوښتنه وکړه چه په څه شي سره فضليت د خلکو په خلکو سره پيدا کيږي حضرت محمد صلی الله عليه وسلم ورته په ځواب کې وويلې چه په عقل سره.
يو ورځې انحضرت صلی الله عليه وسلم علي کرم الله وجهه ته فرمايل: « **يا على اذا تقرب الناس الى خالقهم بانواع البرفتقرب بعقلک تسبقهم با لدرجات و لزلفی».**
د ترجمې حاصل: ( ای علي کله چه د ستا او د نورو خلکومسابقه راغله په زيات نزدې والي او تقرب سره دربار د خالق جل جلالله ته اوخلکوغوښتل چه ځان نږدې کړی په اقسامو د نيکيو سره، نو ته ځان نږدې کړه په عقل سره، نو پدې مسابقه کې به ته په دوی باندې په ډيرو درجو او قُرب سره په هغې باندې مخکښی شې.)
په يو حديث شريف کښې راغلي:« **الناس اما عالم او متعلم و الباقی همج**» خلک په دوه قسم دي يو قسم عالم دي او بل متعلم باقی نور خلک لکه واړه واړه مچانو په شانې دي.
يو صحابي د آنحضرت محمد صلی الله عليه وسلم ځنې سوال وکړو چی کوم عمل بهتر دی .
رسول صلی الله عليه وسلم جواب کې ورته وويلې (علم) په درې کرته صحابي همدا سوال وکړو او رسول صلی الله عليه وسلم همدا ځواب وويلې. اخرصحابی وويلې، چه زه د عمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځني سوال کوم  او تاسې په علم سره ځواب راکوئ.
رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وويلې چې لېږ عمل سره دعلم ځني دا بهتر دی د ډيرعمل ځني چه د جهل ناپوهی سره وي.

## د مرکب جهل علاج

يعنې د هغې ناپوهي علاج کوم چه ناپوه په کښې په خپل ناپوهی باندې  د پوهې، علم يقين او عقيده لري.
د مرکب جهل په حقيقت باندې د ښه پوهېدو لپاره لاندې شعر ډير ښه بيانونکی دی:

**آن کس که بداند و بداند که بداند + اسب خرد از گنبد گردون بجهاند**
**آن کس که بداند و نداند که بداند + آگاه نماييد که بس خفته نماند**
**آن کس که نداند و بداند که نداند +  لنگان خرک خويش به منزل برساند**
**آن کس که نداند و نداند که نداند + در جهل مرکب ابدالدهر بماند   (1)**

لکه چه اطباء او ډاکتران د ځينې مزمنو امراضواو رنځونو د علاج عاجز دي همدا رنګه د نفسي او روحي امراضو اطباء او ډاکتران د مرکب جهل د علاج نه عاجز دي او دا ځکه چه دا رنګ خلک سره د ناپوهی ځني د پوهې دعوا هم کوي او ديته نه حاضريږي چه ځان په خپلې نا پوهی خبر کړي.

**حضرت عيسی نبينا وعليه الصلواة والسلام به ويلې:**

چه زه  د مورنی ړوند او د ابرص د مرض له علاجه عاجز نه يم لکن زه د احمق  له علاجه عاجز يم.

دومره ده چه يو څه سړي ته لږ قدرې اطمينان ورکوي چه ګوندې د دې مرض مصيبت رسيدلو خلکو به علاج پرې وشي هغه دا دی چه په دا رنګ خلکو دی د رياضي او ساينس علوم  ووېل شي لکه حساب او هندسه او داسې نور ځکه چه په علومو کښې حقايق په سترګو مشاهده کيږي او مطالب بداهت ته رسيږي. ځکه چه د دې علومو په ويلو کښې به ورته يو لذت حاصل شي او په حقايقو باندې به يوځـه پوه او عادي شي ګوندې په ورو ورو سره دا مرکب جاهل يو وخت په خپلو خطاوو پوه او ددی دعوا ونکړي چه زه پوه يم او په دې وسيله دده د جهل بسيطه شي او بيا ديته حاضر شي چه خپل خطاوې دعلم په برکت سره محوی  کړي او د بسيطه جهل ځني هم نجات ومومي.
محترم لوستونکي !
به خدای خبر چه د څنکه ناپوهانو سره مخامخ شوي وي او زه نه پوهيږم چې دوی به کوم جاهل مرکب ليدلی وي اوکه نه او يا دوی به داسې نا پوه چه د سړي زړه خوری او آسمانی تندر به وي چيرته ليدلی وي او که نه ليکن ما په خپله خوزښت ډير داسې ناپوهانو سره خپل زړه خوړلی او ځينی داسې مرکب جاهلانو سره مخامخ شوی يم چې تر ننه پورې په دې عقيده يم چه دا سړی به هيڅ د ساينس او رياضي په علومو او د افلاطون او بوعلي سينا او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نابغه پوهانو په تعلیم به پوه او انسان نه شي.

**هوچه په لوح محفوظ ښکلي ليوني وي + به تعليم د معلم به هوښيارنه شي**

ليکن زمونږ وظیفه دا ده چه اول د پوهې د پاره سعیه لرو او په آخر کښې به دوعاء ورته کوو.

ياددونه :

(1) دغه شعر چی خدابخښلی داکتر صاحب «سعید افغانی»په خپل کتاب کی ترینه یادونه کړی ، دهغه شاعر نوم دی « ابن یمین فریومدی یا سبزواری» د امیر تیمور د وخت شاعر دی .دغه شاعر په اتم پیړی کی تیر شوی .اودخرسان قدیم له مشهور شاعرانو څنی دی .

آن کس که بداند و بداند که بداند + اسب خرد از گنبد گردون بجهاند
آن کس که بداند و نداند که بداند + آگاه نمایید که بس خفته نماند
آن کس که نداند و بداند که نداند + لنگان خرک خویش به منزل برساند
آن کس که نداند و نداند که نداند + در جهل مرکب ابدالدهر بماند
آنکس که نداند و نخواهد که بداند+حیف است چنین جانوری زنده بماند

## پيژندنه:

دغتو او لویو مهمومسائلو څخه د جامعی او ټولنې د هرډول د لوړتیا او ترقي تشخیص پرې ټاکل کيږي هغه قوت او طاقت دپيژندلو دی.

که څه هم دا قوت د اصل تخلیق په اعتبار او لحاظ د مخلوق د اختیاراتو نه پورته او لوړ دی او د خالق جل جلال له په علم او حکمت پورې مربوط او منوطه دی او مونږمخلوق ته روا نه ده چې خلک به د دی قوت په ضعف او لږوالي کې چې د پاک خدای عطاء او پيرزوينه ده مسئول کڼواو دا ځکه چې ممکن حقیقي حکیم به د خپل مخلوق مصالح او فواید په دې کې ګوري چې ځيني خلکو لره به په ځيني نورو باندې په اصل تخليق کې ترجيح او فوقيت ورکوي، لاکن کوم هغه شی چې انسان په هغه کې مسئولیت لري هغه د پيژندلو دحس نه تربيه کول دي.

هوکه مونږ دجامعې د دردونو او د طن بيرته پاتي کيدو ته ښه عميق او متوجه شو نو پواځې کوم شی چې زيات او دهر څه نه اول د توجه وړ دی او د ټولو نه چې کوم يو مهم او غټ علت سري ته ښکاريږي هغه همدغه د نه پيژندلو مرض دی.

د مثال په ډول که زمونږ مریض په خپل طبیعت پوه وی او د خپل صحت سره یی موافق او مطابق اشیاء پيژندلی اود خپل د تشخیص مراعات یې کولی نو به ضرور په مرض نه اخته کيده په دوهم درجه کې که زمونږ ډاکترانو او طبيبانو د مرض په تشخيص کې کافي لياقت درلودی نو به په عالم اسباب کې دومره امراض او د مرض به دومره طوالت او تلفات نه وي.

همدا وجه ده چې امراض ورځ په ورځ زياتيږی. طبيبان او ډاکتران د مرض په تعين او تشخيص کې ضعيف دي او کله نا کله لا مهلکی دواوې ورکوي. همدا رنګه د اجتماعی حیات په هره برخه کې په اصل احتياج باندې ځان پوه کول او عمل او پيژندنه دلايقو اشخاصو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا ورته کار ورکول لازمي او ضروري دي.
هود هر څه نه اول دا خبره ډیره ضروري ده چې اصل احتیاج معلوم کړو او د عقل په حاصل پسې بدې و نه وهو، او د اصل احتیاج معلومولو د پاره فکرونه په کار واچو او دخلکو شور، فغان او آه ته غوږ کیدو. د پوهو لایقو اشخاصونه معاونت او مرسته و غواړو او له هرې خوا نه معلومات را غونډ کړو. کله مو چې ټول احتیاجات او دخلکو دردونه راغونډ او معلوم کړل بیا نو د حل او اجراء دپاره باید ضروري او لازمي کار ته د ټولونه او له موقع ور کړو.
تر څو چې د وس په موافق او ایجاباتو مطابق د وخت سره برابر په ښه ترتیب کارونه اجراء او حل شی کله مو چې د اصل احتیاج معلومول او د ضروري او حتمي کار و جدا کول سره وکړل نو بیاهم باید په یاد ولرو چې یوازې په یوازې د حل لیاره د کار د خلکو پیژندنه ده.
هو د کار د عاملو اشخاصو د پیژندلو د پاره ډیر دقت او اهمیت ورکول په کار دي. دا ځکه چې هیڅ کار خپل په خپله نه اجراء شوی او نه اجراءکیږي.
د پاک الله (ج) حکمت او لطف دی چې مونږ ته یې توفیق او طاقت را کړای چې ټول مشکلات او تکالیف او د کار کولو موانع په تحمل، زیار او دقت سره پورته کړو.
هو د دنیا مشکلات په عقل حل کیږی او د عقل پیژندنه د خلکو کار دی. دا هم باید ووایم او ومنله شي چې د کار معلومولو او عاقلو شخصیتونو پیژندلو د پاره باید د خلکو د لیاقت او ذکاوت د ټولو خواو مراعات او لحاظ وساتل شی او بیا ورته په کامل اعتماد او صلاحیت کار په غاړه واچول شي. دا وخت نو بیا حق لروچې د کار او اجراآتو نه یې د ښې نتیجو او ثمرې امید او انتظار وکړو.
هود کارخلک باید وپیژنو د کار ماشین پرزی باید د غافل، غادر، خائین، کاذب ،بوټ پاک اشخاصو په لاس ور نه کړو. یقین وکړئ چې دا کسان خلک متنفر کوي، فساد راولي او د مملکت نظام خرابوي. اوس چې د حکومت او معارف په توجه او زیار جامعه روښانه او خلک پوه شوای دی، نه ښایي چې مونږ په خلکو باندې د نا پوهو او غافلو خیال وکړو.
هو: خلک پوهیږي او هغه اشخاص چې د ملت او حکومت د سعادت، فلاح ، رفاهیت د پاره کار کوي، پیژني یې. خلک ګوري او تجربې کوي چې کوم کوم اشخاص د کار لیاقت، طاقت او صلاحیت د وطن سره عشق او علاقه لري.
د محترمو لوستونکو د توجه د جلبو لودپاره غواړم دا هم عرض کړم چې کارکول کومې مخصوصې قافیې او مود ته احتیاج نه حس کوي او نه خاص د تخصص په پاڼی پورې توقف لري.
هومنم چې تربیه ښه ده او تعلیم ضروري دی. لیکن د کار د پاره صحیح مغز او تجربه ډیره حتمي ده او دا ځکه چه صحیح ماغزه او د تجربې خاوندان په لږو معلوماتو سره هم دکار په وقت کې داسې صحیح نتایج او ثمرات ورکوي چې یوازی د ډیپلوم صاحبان هغی ته نه وررسیږي. کف او کالر عصری جامی مود

(c) ketabton.com: The Digital Library

او فیشن د کار د پاره ضروری نه دی او نه د مثال په ډول ږیره، پګړی، چپن او څادر د کار سره منافات لری.
محترم لوستونکي دا خیال ونکړي چې زه ګونديږ د تربيي او مکتب، دبستان او طبی ډاکتري د معلوماتو او فوایدونه منکریم. نه نه داسی نه ده. زما اصلي، اساسی هدف او منظور د خلکو پیژندلوکې ډیر دقت او پلټنه ده. دا ددې د پاره چې د خلکو په صوری او ظاهری قافیه او د رنګ په غوړوالي او په غټو غټو قالبي خبرو غلطه نه شو. ځکه چې علم او فضل جدا کار او عمل علیحده شیان دي او تجربه ځان ته منازل لري. همدا وجه ده چې ډیراشخاص په کار او عمل کې کامل دي لکن په علم او فضل کې ناقص دی.
نو کوم هغه اشخاص چې په علم فضل کار او عمل کې ښه وي او بیا لا تجربه هم لري.
زه دا نه وایم چې دا رنګ خلک د احترام او قدر لیاقت نه لري زه د داسې اشخاصو د قدر او اهمیت ملګری یم ځکه دا قسم خلک پوهیږي چې جامعه او ټولنه کوم کوم مشکلات او احتیاجات لري او د کار کولو صورت او صحیح اجراآت په څه قسم او په څه شوا خون وي او دا رنګ خلک په علم او فضل کار، عمل او تجربې سره د اشخاصو قدر او احترام لري. دی په صحیح کار او دخلق الله د احتیاجاتو او اړتیاوو په حل کولو کې لذت حس کوي.
زه د داسې حس نه په ښه صحیح سالم حس او د ملت او حکومت د دردونو د پاره په مجربې نسخې سره تعبیر کوم دا شریف حس یعني دا دخلکو پیژندلو قوت او اهل ته کار ورکول او نه عاطل کول. یوه جامعه او ټولنه زرتر زره مخ په پورته بیایي زه دایقین لرم چې د حکومت په توجه او د معارف په مرسته او تبلیغ به دا حس ورځ په ورځ تقویه کیږي او د مقتدرو اشخاصو نه امید لرم چې دا د قدر وړ حس تقویه او د جامعې ټول مفاسد محوه کړي.

## د سعادت معراج:

شک نشته چه پاک خدای ماشین د حرکت د دنیا د انسانانو په لاس ورکړي او لکه چه کتل کیږي انسانانو ترینه دعقل او فکر او کار په اندازی سره فوائد اخیستي داهم باید وویل شي چه کار په تربیې سره کیږي او طبعي پوه په تعلیم او تعلم او تجربې سره درجه په درجه کمال ته رسیږي.
هو کله چه د خلکو تربیه او سویه ښه شي او وکړای شي چه د دیني او دنیوي په لیارو او چارو پوه شي بیانو دا ویلو شوچه حقیقتاً دا قوم د فلاح او سعادت معراج ته و رسیده همدا وجه ده چه کوم قوم او ملت او حکومت چه د معارف په شقوقو کښې ترقي او تربیي په لیاره اوچارو کښې بریالی او موفق شوی. هغه جامعه او ټولنه په واقع کښې
د ژوندانه په رازونو او اسرارو عالمه د نورو محتاج الیه کرځیدلی شي. بالعکس کوم شخص او یا کوم قوم چه د تربیی د رڼا په حقیقي معنی سره وروسته او لری ولیدلی وي هغه نشي کولی چه ترقي وکړي او ترقي لاځه کړې چه خپل موجودیت قدرې محافظه او وساتلی شي.
همدا وجه ده چه سالک وائي:

**قلندران طریقت به نیم جو نخرند - قبای اطلس آنکس که از هنرعاریست**

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په دا عقیده لرم چه د دنیا وګړي او یا قوم او ملت به هله کامیابیږی چه د معارف په ټولو شقوقو کښې عملاً پوه او بیا په توازن سره خپلې لیارې او چارې سمې او برابرې کړي.
دا د معارف وظیفه ګڼو چه د افکارو په روزنه کوي او خلک به با تعلیمه او تربیه ګرځوي او دا د معارف کار دی چه هر څه نه اول باید د تربیې د پاره د کار خلک و پیژني او کار وکړي، بیا د کار د خلکو فریضه ده چه د کار د پاره په توازن سره سړی جوړ کړي او جامعې ته تقدیم او د عمل میدان ته راوباسي.
داد معارف کار دی چه د صداقت، سیاست، ثبات، شجاعت، پاک نفسی، حلم، اخلاق او صبر په اندازې به خلک پوه کوي، فائدې او نقصان ته به ئی را بیداروي.
زه په دا کښې څه نه وایم چه زمونږ په معارف کښې څومره مصرف شوای او کیږي او په معارف کښې د مصرف په اندازه خلک تربیه کیږي او که نه کارئې لایقو خلکو ته ورکړي.
او ځنګه او نه په داسی مسائلو کښې زما غرض شته زه خپل ایماني او وجداني وظیفه او دنده همدا بولم چه همیش همدا ووایم چه افغانستان نن په علم او پوه کښې د پرون ځنې یو په سله ډیر ښه دی. پرون په یوه کلي کښې څه چه په یوه قریه کښې یو لوستونکی او لیکونکی هم نه اما نن په هر کلي او قریه کښې ډیر ډیر خلک لوستونکي او لیکونکي پیدا شوي او ډیرو لوستلو او اوریدلو نه مو نورسر په درد شو.
هو اوس مونږ ته سره د دومره ډیره ویلو او لوستلو یو څه په چپه خوله کارهم لازم دی.
مونږ ته دا په کار ده چه خپلې دښتې او میرې آبادې، کافي فابریکې پیدا کړو او ترینه کار واخلو. خپل زراعتي او صنعتي چارې سمې او دې دومره بیکارو خلکو دپاره کار پیدا کړو.
دا ځکه چه د وطن غټه سرمایه خلکو ته کار پیدا کول او په دا وسیله د خلکو د اقتصادي مشکلاتو مراعات دی. مونږ باید ښه زیات عمیق شو چه واردات مو د صادراتو نه لوړ نه شي، دا ځکه که واردات مو د صادراتو نه لوړ شول نو د وطن شته به مو ټول په زیب او زینت او فیشن لوکس جامو او سامان او رنګ او روغن صرف شي او اقتصادي ستونځې به مو ډیرې شي.
مونږ باید پدې پوه شو چه دا وطن زمونږ دی او د وطن ترقي او تعالی به په خلکو او په کار سره کیږي.
هو وطن په خلکو ښه ښکاري او خلک په کار او کسب مونږ باید داسې و نکړو چه ځان ځنې قصداً تیار خواره جوړکړو او په کار کولو وشرمیږو. داسې ونکړو چه په آفرین او شابس پسې مو زړه وچوي.
هو مونږ باید د خپل ځان په صفت او مدحې مین او خوښ تر داسې اندازې نه شو چه ترینه مَن مَن غوښې واخلو او کوم عاجزسړی چه هغه د صفت او مدحې په فن کښې مبتدي وي او نشي کولی چه خلک په تشو خبرو خوش کړي هغه بد و ګڼو. مونږ باید په دا غلطه خبرو ونه غولیږو چه خلک ئې نه کړي نو مونږ به ئې ولې وکړو. دا ځکه چه هر څوک ځان ځان ته مسئوولیت لري.
هو که خلکو کار ته نه پریښودلم هلته نو بیا حق لرو چه قراره په قراره استراحت وکړو او یا دغم سندری ووایو. نه مونږ باید دا ونه وایو چه جولایم او که نداف.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو باید لاس واچوو او پښو ته حرکت ورکړو چه ورځ په ورځ خپل کار او صنعت ښه کړو. ځما مقصد دا دی چه داسې نه شو چه نظریات لوړ خبرې ډیرې او عمل لږ. داسې نه شو چه خیالاتو او اوهامو د تطبیق د پاره د کار نه لاس واخلو. دا خو ډیره ښه ده باید آفرین ووایم چه د سعادت دپاره مونږ لوړ لوړ چورتونه وهو لکن دا غلطه ده چه کار نکړو او بیا لا یوعالم، پوه او تجربو کار هغه چه د ده ماغزه ډیر څه ویني او د خلکو په غلطی باندې هم ښه پوهیږم او د قوم او د وطن د خدمت د پاره زښت ډیر ارمانونه لري، ترینه کار وانه خلو.

هو د سعادت معراج او د وطن ترقي او تعالي په دې کښې ده چه ځان پوه کړو. خلک پوه کړو. کار وکړو او د کار خلکو ځنې کار واخلو، ترڅو دځان او قوم او د وطن او ددنیا د موفقیت د پاره قدم پورته کړو.

## د دنیا موفقیت

انسان د دین، ایمان او وجدان په لحاظ مجبور او مسئول دی چه د خپل وس او طاقت سره سم هغه ووائي او ولیکي په کوم کښې چه د خلکو او د انساني ټولنې ګټه او فایده وي.

دا دسلیم طبعیت حس او ذوق او پوهو کسانو نظریه ده چه د عالم د اصلاح له امله دی په حکیمانه صورت سره د جامعی د خیر او فلاح لپاره کار وشي. نو ځکه زه غواړم چه د ګرانو لوستونکي د معلوماتو له پاره څه حقایق د دنیا د موفقیت تر عنوان لاندې ولیکم. په دا ترڅ کښې د انصاف له خاوندانو څخه هیله لرم چه د تعصب نه کار وانخلي او د مضمون مقصد په پوره دقت سره ملاحظه او مطالعه کړي او د لاندی سوال(س) او جواب (ج) او تحقیق ته ښه ځیرشي.

**س**: دنیا د کشف او اختراع په سلسله کښې مخکې تللې او که نه بیرته پاتې ده؟

**ج**: صنعتي، زراعتي، تجارتي، طبي، او علمي چارې او پلټنې حتی آسمان دختلو قصد او دعوه، حربي آلات اوسامانونه د اتم او هایدروجن بمونه په ښکاره او واضح ډول ثابتوي چه دنیا د کشف او اختراع په سلسله کښې ډیر مخکې تللی ده.

**س**: نو په خوا دا دومره کشفیات او اختراعات ولې نه وه؟

**ج**: ددې فلسفه دا ده چه ورستنو خلکو د پاره مخکینیو خلکو مبادي پیدا کړي وو  نو دوی په لټه کښې کوم تکلیف ته محتاج نه شول او له همدغه مقدماتي مبادیو نه ئې ګټه او نتیجه واخسته او وروسته تر یوې لږې سعی او هڅې په نوي کشف او اختراع موفق او بریالي شول.

**س**: دې عصر ته باید بریالی او موفق عصر ووایو، ځکه د مبا دیو نه مقصد ته مرتبه په مرتبه په واقع کښې همدا عصر و رسید او که نه؟

**ج**:- هو: ولی نه؟  دا دومره ښکلې منظرې، لکس مالونه او موټر، الوتکې ، نوی مود، صنعتي او زراعتي ماشینونه، دسفر د پاره ښه مستریح وسایل، ښه رنګارنګ حربي آلات او اسباب، د مریضاو او د ناجوړیو د پاره ښې شفاخانې او ډاکتران، د اوسیدو او سکونت له امله ښه عمارتونه او ودانۍ، د میو ډک باغ (بڼ) راز راز طعامونه، او خوراکونه، خواږه آوازونه ، د راډیو اختراع بالاخره څه چه لیدل کیږي او اوریدلی شی دا ډول د دې عصر د نوابغو او فیلسوفانو بریالیتوب او د مخکینو د زیار نیتجه او پایله ده. اما ډیر افسوس که څوک د خوند د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاره ځوک پریږدي او د عالم د تخریبي افکارو او هرج مرج او د انسان د محوه کوونکي امراضو مخه ونیول شي. ځکه هر څه که وی او انسان نه وی نو ځوک به ئی څه کړی. دا دومره قتل او قتال. د دنیا دوه غم نه ډک عمومي جنګونه او په هرمملکت کښې اخ او دب او د کوریا د لښکر د جګړې، د سودان او سویز د کانال معامله، د عربو او یهودانو چور او چپاول، د مراکش او تونس اختلاف، لانجی، مظاهری او ظلمونه، په غربي او شرقي آلمان کي ناکلاری، دهند او پاکستان قتلونه، د ایران د نفتو ځندنیی واقعه، د متحدینو د نوی قوماندانی جوړول او نظامی پکتونه، د دنیا په هر کوټ کښې فکري اختلافات، نا حقه دعوې، جبراو تشد د، او حق پټول، ځان ځاني سیاست، ډول ډول مذهبونه، مسلکونه او عقیدې، استعماري خیالات، حتی چه دنیا بالکل د انسان د حرص او طول اصل له لاسه سره د دومره کشف او اختراع او پرمختګ د اور کوره ګرځیدلی ده. داد اتوم او هیدروجن د بمو د آثارو نه داسې معلومیږي چه د تباهی نښې او علامې دي او سړی په دې سودا کښې غورځوي چه د انسان نسل به یو ځل بیخي د ځمکي له مخې محوه شي.

س: دا خو نو بالکل موفقیت او بریالیتوب نه شو بلکه ناکامي، وراني، خرابي ده . معلومه شوه چه د نوابغو مخترعینو، فیلسوفانوکاشفینو دومره آوازې چټي دروغ او پف دي. داخو که دا نور حیوانات پرمونږ. پوه او خبرشي باید وخاندي او د تمسخر په ډول آفرین او تحسین راکړي؟

ج: هو شک ئې ګښئ؟ وراني- خرابي به نور څنکه وي. واقعي فیلسوفان او مخترعین کاشفین، خو هغه وي چه لا اقل د خپل مستریح حیات، د آرام ژوندون او د انتظام د وسائلو علم او عمل ولري. حیوانات هم خپل منځ کښې یوتر بله عاطفه لري. مثلاً باز د باز، شندله شند، لیوه د لیوه، پړانګ د پړانګ. همدارنکه نورځیرونکي او نه ځیرونکي حیوانات یو له بله خپل په مینځ کښې رعایت کوي، خو پرته له انسانه چه خپل په مابین کښې سره خوري. یو پر بل باندې تجاوز او تیری کوي.

**س**: دا ولې او په څه په دنیا کښې دومره نا کلاري پیدا شوې ده؟

**ج**: دا سوال ډیر مغلق دی. سړی د فکر په جولان او حرکت کښې ستومانه کوي. بیا هم ماته د ډیر غور او دقت په لحاظ او د مذهب له لیارې ثابته شوې ده چه دا ټول د پاک خدای د عدم اطاعت او نا فرماني آثار او د انسان په خپل کمال غره کیدلو نتیجه او پایله ده. نن له یوه طرفه د دنیا پرمخ تګ او ترقي او له بلې خو د اخلاقو ضعف تنزل او دا عجب او نادر وقایع راز راز او رنګارنګ مذاهب ډول ډول افکار مختلف سیاستونه د دنیا کشمکش او های، هوی دا تخریبي آلات سړی حق حیرانوي او په انتهائي فکر او صحیح تعقل کښې ضرور په دې اقرار کوي چه یو خالق الکل مربي، مدبر ذات شته چه په خپل حکمت ئې دا لوی ماشین د دنیا په لکونو لکونو پرزو سره چالان او روان کړی دی. خلکو ته ښیی چې په دنیا یو بل لوی واک لرونکی ذات شته چې هغه ته تاسې ټول طوعاً او کرهاً راجع او تابع یاست. که خلک د ده د دین په امر او نهی او هدایاتو روان شي نو به د انسان ټولې عقیدې او اړیکې حل او د دنیا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو چاروکې به د حق دين په رڼا کې فائده او ثمره واخلي.
**س**: په دنيا کې څومره اديان او مذاهب دي؟
**ج**: په دنيا کې اديان او مذاهب له حد نه وتلي دي.
**س**: دا ټول اديان حق دي او که يو؟
**ج**: ددې عصر د عمل د پاره يو دين حق دى او حق په ځاى د خلاف کې علمي تحقيق او څيړ نه وائي چه يو دى.
س: دا دومره نور باطن اديان چا پيدا کړي چې د خلکو د هلاک موجب شوي دي؟
**ج**:د استعمار د مغزو خاوندانو د قوم ناقصو رئيسا نو پيداکړل او دا ځکه چې د بربريت فرعونيت خاوندان چې کله پوه شوي دي چې په دا ليارە زه خپله شخصي فائده نشم کولى او دا اقتدار به زمانه لاړ شي نو د دين او مذهب په نامه ئې ډير ساده خلک غولولي دي او په دا چل او دوکه مارى ئې خپل شوم مقاصد او اغراض حاصل کړي.
هو: د دنيا با تجربه او با تربيه منصف خلک پدې پوهيږي چې دا خبره حقه او ثابته ده او دا ځکه نن که يوځل په ټولې دنيا نظر واچول شي نو د دنيا په ټولو نا کلاريو نا آراميو کې د استعمار او استثمار خاوندان پوره لاس لري.
**س**: ددې غټې نا آرامى، اختلاف، تشدت، علاج به څوک وکړي چې ټول خلک د يوه حق دين لاندى را جمعه شي او په آرامې، خوښي ازادې د يورنګى په فضا کې ژوند وکړي؟
**ج**: د دې سخت مرض علاج هم سخت دى. ځکه چې په نړۍ که بالکل عدم اعتماد او د اخلاقو ضعف جاري دى. بيا هم که په نړيواله او بين المللى موسسه کې واقعاً بين المللي اشخاص، ښه عالمان، د موازنې با تجربه صالح نماينده ګان سره ټول او په تمامه معنى خداى پاک ته راجع شي او د صحيح مذهب او آسماني حکم دين په اساس خپل جريانات شروع او پيل کړي نو د خداى پاک په فضل او د دوى د جد جهد او د صحيح تدبير په اثر به ټول اختلافات، روحي امراض محوه او په حقيقي صورت سره به په يو آرام، آزاد، مسعود ژوندون مشرف شي.

## د ويرې علاج:

کله چې د نفس تصور او خيال د يو ناوړه آينده پيښې چې په دفعې د هغې باندې قادر نه وى وکړى په دا وخت کې نو په نفس باندې خوف او ويره طاري کيږي او په زړه باندې تکان، خفګان او غم او په اندامونو باندې ويره ده. تشنج او ارتعاش راځى.
ويره د بدن د پاره زيات خطرات پيدا کوي او ډير کرته پخوا د وقوع د هغه واقعې چې سړى ئې د بدن عواقبو ځنې ويريږي مهلک عواقب پيښوي.
مثلاً سړى که په يوه دشته او صحرا کې روان وي او په زړه باندې ئې دا ويره راشي چې دلته په کوم پړانګ او يا ليوه راشي او ما به وخوري او دا خوف د ده په زړه باندې استيلا وکړي او طريان ئې مخ په زيات والى لاړ شي آخر پخوا ددې ځينې چې ليوه او يا پړانګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته ضرر ورسوي زړه ئې چوي.
او يا مثلاً حتی خلک غواړي چې کوم کار وکړي لکن پخوا له کولو د کار څنې په خيال د کولو د کار کې يو خوف د ده په زړه باندی راځي چې په نتيجه او پايله کې د دا رنګ خلکو څنې هر څه خطاء شي او يا مثلاً مرض چې سړی په کی د مرګ د ويرې له امله دومره په خوف کې شي چې په نتيجه کې مرض او رنځ پاتې او ويره د مرګ موجب وګرځي، کوم هغه اسباب چې د ويرې موجب کيږي يا به اصلاحي کار وي او يا به اختلالي، چې ددې هر يو د پاره به علاج وښودلی شي.

**ويره په څلور قسمه ده:**

(۱) يو قسم ئې هغه ويره ده چې د وقوع د امر ممکن او احتمالي شي. څنې پيښه شوي وي يعنې داسې يو شی وي چې د سړی د قوت او طاقت څنې بهر او بيرون وي.
(۲) او دوهم، هغه قسم ويره ده چې د وقوع د امر ممکن چې د سړي په خپل قدرت او اختيار کې وي او هغه کار يواصلاحي کار وي پيدا شوی وي لکه مثلاً سړی خيال وکړي چې ظالم به د ظلم څنې منع او د مظلوم سره به معاونت کوم. په دا وخت کې يوه ويره پيدا شي چې نه چې ظالم د ظلم سلسله زما پورې به هم وغوځوي.
(۳) دريم قسم ويره هغه قسم ده چې د وقوع د داسې امر چې هغه امر ممکن وي او د سړي په اختيار کې هم وي او يو د فساد او اختلال کار وي نشوه او نمائی کړی وي. مثلاً چې سړی خيال وکړي چې د وطن او د خاورې انتظام او د سپلين به خرابوم. نو په دا وخت کې يوه ويره پيدا شي چې د اقتدار خلک به مې حبس او يا مړ کړي.
(۴) څلورم هغه قسم ويره ده چې له امله د يو ضروري امر لکه د مرګ د خيال نه پيدا شي.
ويره په دا څلور واړو اقسامو سره يو نفسي او روحي مرض دی او ددې مرض د پاره روحي دوا په کار ده. نو څکه دا لازموي چې لوستونکی دې دا نسخه ياده کړي او د خپلې ويرې د مرض علاج دې پرې وکړي.
د اول قسم ويرې دا چې ويره له داسې امر ممکن احتمالي شي څنې پيښه شوي وي چې د سړي په اختيار کې نه وي.
علاج ئې دا دی چې سړی بايد ژرتر ژره داسې افکار قطعه کړي او زړه ته ډاډ ورکړي چې دا يو احتمالي شي دی. داسی نه دی چې ضرور به واقع کيږي بياهم که واقع کيږي نو ويره خود هغی دفع نشي کولی. نو څه له په خوا د وقوع څنې د ويرې له امله ځان تلفوم. زه مکلف په ښه کاريم نور چې هر څه کيږي کيږي به .
د دويم قسم ويرې علاج دا چې ويره د يو داسی امر ممکن شي څنې پيدا شوی وي چې د سړي په اختيار کې وي او اصلاحی کار وي.
علاج ئې دا دی چې ويره بايد په اصلاحي خدمت کي لکه د ظالم منعه کول د ظلم څنې او يا د مظلوم سره معاونت هيڅ زړه ته را نه وستل شي.
څکه داسې ښه عزم او قصد، دلويانو او د اولوالعزمو خلکو کار دی. د عزم او ارادی خلک لويه غايه او هدف لري چې هلته ويره کوم اهميت نلري. په داسی وخت کی **سړی بايد دا شعر ياد لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مرد باید که در کشاکش دهر**
**سنگ زیرین آسیاب باشد**

سعدي

**د پښتو متل دی: چې لوی بارونه وړی خوراک زوز دی.**

په دا سلسله کې باید داسې خلک د مخکینیو پوهانو اولویانو د ژوندانه کار نا مې ولولي او مطالعه کړي. هلته په کې د هغې ثبات، حوصله، استقامت او په هغې باندې د دنیا مشکلات او سختی او ربړو ښه تجزیه کړی او د خپل د زړه داډ د پاره ئې د ځان سره یاد داشت وګرځوی.

الله جل جلال له په کلام مجید او فرقان حمید خپل کې فرمائي: **« امْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ۖ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّىٰ يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَىٰ نَصْرُ اللَّهِ ۗ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ»** د ترجمعی حاصل : ( مسلمانانو آیا تاسو ګمان کوی چې جنت ته داخل شئ او رانه شئ په تاسو باندې تکالیف او مشکلات د مخکینو قومونو چې هغی په حیات کې په لوړې او مرض او پریشاني تر داسې اندازی مبتلا و چې ویلې به رسول صلی الله علیه وسلم او هغه اشخاص چه به د ده سره وو کله به مدد او معاونت د الله پاک ورسیږي. الله جل جلال له په جواب کې فرمایل خبرشی چې مدد او معاونت د الله پاک قریب دی. )

د دریم قسم ویری، کوم ویرې چې ویره د هغه ممکن شي ځنې پیدا شوي وي چې د سړي په اختیارکې وي. یو ناوړه وضعیت او د جامعی د پاره مخل امروي، ددې ویرې علاج دادی چې باید د ځان سره فکر وکړی او خپل ایمان او وجدان حاکم وکرځوئ چی په حیات او ژوند کی کوم کار د کولو وړ دی، او کوم ندی او په دا وسیله په خپل عقل سره د داسی اوضاعو ځنې اجتناب وکړي چې هغه موجب د نارضائي د خدای پاک او سبب فساد د خلکو ګرځي .مقصد دا چې ددی قسم ویرې علاج په خپله د سړي په خپل اختیار کې دی.

هو آیا سړی ولې داسې کارته اقدام کوي چی هغه موجب د فلاکت او بد بختي د ځان او د خلکو شي.

د څلورم قسم ویرې کوم چې له یو داسې امرځنې پیدا شوي وې چې حتمي الوقوع وي لکه مرګ علاج ئي دا دی چې سړه باید داسې افکار په تصور او خیال کې راولي چې مرګ یو داسې امر دی چې خلاصی ترې ممکن نه دی نو ولې پخوا د مرګ ځنې ځان د خفګان او د مرګ د ویرې له امله وژنم؟

آیا زما دا ویره کومه دفعه کولی شي او که نه؟

آیا د تقدیر کړه څوک دفعه کولی شي او که نه؟

ښه نو چې څه مقدره ده هغه به کیږي نو پخواله مرګه به ولې ځان په عذاب مبتلا کوم؟

د مرګ ویره اکثرو اشخاصو باندې علی الخصوص د ضعف په حالت کې زیاته استیلا او غلبه راولي نو ځکه محترم لوستونکي دې مرګ د ویرې د علاج تر عنوان لاندې په پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول د علاج مطالعه وکړي.

## د مرگ د ويرې علاج

دا بايد په ياد ولرو چې مرگ د انسان د پاره د ذات فنا نه راولي او دا ځکه چې انسان د نفس ناطقه ځني عبارت دی او نفس ناطقه په مرگ سره دومره کيږي چې د بدن ځني ارتباط قطع کيږي لکن دی چې خپله په نزد د قادر مقتدر وصل پيدا کوي او علی الخصوص ارواح د هغه اشخاصو چې د حيات محصول ئې د بشر د اصلاحاتو او خدمت د پاره دفتر وي. دا رنگ خلک که څه هم په ظاهر کې د دنيا د غم کدې ځني سترگې پټوي لکن په واقع کې هميش د پاره ژوندی دی. همدا وجه ده چې سالک فرمائي :

**هرگز نميرد آنکه دلش زنده شد به عشق**
**ثبت است بر جريدهٔ عالم دوام ما**

**يو پوه پښتون اديب وائي:**

**زمانـې سره ئـې ليار د محــوې نشته**
**د ايثار په گټو ښکل دی نوی نوم ځما**

دمثال په ډول که د کوم سړي ځني لاس او يا نور اعضاء پرې کړی شي خلک دا نه وائي چې معدوم شو نو معلومه شوه چې د بدن په محوه والی کې د انسان حقيقي محوه والی نه راځي نو که د انسان د روح رابطه د بدن ځني قطع کيږي او بدن په خاوره کې ښخ شي داسې نه ده چې انسان او نفس ناطقه محوه شو همدا وجه ده چې د حضرت بلال د مرگ په وخت کې د ده محترمې ښځې ډيره ها او هو کوله. حضرت بلال ورته په ځوا ب کې په دا مضمون وويلې.

**واويلا چه ميزنی در پس مرگم از حزن**
**واطر باهمی بگوی دوست بدوست ميرسد**

لوستونکي دې دا په ياد ولري چې د مرگ ويره به غالب د دې لاندې وجوهو له امله وي:

1- داچې سړي ته د مرگ حقيقت معلوم نه وي او د دې له کبله چې مرگ ورته فناء د ذات ښکاري نو ځکه به خفه او په ويره کې وي.

2 - ددې له امله به سړی د مرگ ځني ويريږي چې په مرگ به درد او تکليف ورته ښکاري.

3- دا چې سړي ته داعقيده پيدا شي چې په مرگ کې د سړي د پاره د هستي نقصان دی او ټولی کمالات د سړی محوه کيږي نو ځکه په زړه باندې ئې ويره راشي.

4 - د دې له امله چې وروسته د مرگ ځني به سخت احوال او تکاليف پيښ شي نو ځکه د مرگ ځني په ويره کې وليږي چې څه به کوم او څنگه به شي؟ اونه چې په عذاب مبتلا شم.

5- دا چې سړی په خپلو اولادو، دوستانو او خوږو ملکرو باندې خفه وي وروسته د ده د مرگ به هغوی څه کوي؟ اولاد به ئې چاته پاتې شي او د ژوند حالت به څنگه وگرځي؟ په دا ډول وږوحالاتو کې چې سړی د ننه دننه فکر کوي او د خداوند تعالی قدرت او انتظام د عالم چې ځير او د دنيا په وقايعو کښې چې عميق کيږي هلته سړی خپله په خپله د داسې عقدو حل کولی شي او داسې شيان چې د خفگان موجب نه گڼي او نه داسې عادي شيان د همت او ثبات په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاوندانو کوم تاثير اچولی شي چې ځان په خپل لاس د ويرې طوفاني بحرته واچوي او د ويرې درنده ته ځان وسپاري.
بيا هم لوستونکي دې د هر مادې په متعلق خاص خاص د دی لاندې مجربې نسخې ځنې ځان ته دوا جوړه کړي.
1 - دا چه خلک مرګ ځان د پاره فناء ګڼي مرګ په څه فناء دی؟
آيا دا فناء په دې دی چه نفس او د بدن روابط سره قطع کيږي. که دا وي د اخونو بايد د ويرې موجب نه شي ځکه چه مرګ فناء د نفس او د ځان نه دی. ځکه بدن د غوښو او پلو او رګو او شرائينو او هډوکو او دځيني نورو اجزاو ځني جوړ دي او دا اجزاء کله چه د بدن او د روح رابطه قايم وي هلته هم کله په زيادت او کله په نقصان کښې وي. هو په ژوندانه او حيات کښې د بدن اجزاء په هر آن او ثانيه کښې ځان ځان ته اوضاع قبلوي طفل وي مراهق شي مراهق وي د ځوانی نيشه ورته ورشي. ځوان وي د کهولت او شيخوخت په ادوارو راشي. هو انسان پيداء لپاره د تغير او تبديلی دې يوازنی شی چه دايم او باقی دی هغه علم او فضل او کمال دی او دښه عمل جزا.
2 - دا چه سړی ويريږي چه په مرګ کښې به تکليف وي علاج ئي دادی چه تکليف او زحمت دا ټول د بدن او د روح د ارتباط له امله دی او د بدن په ارتباط کښې په سړي باندې رنګا رنګ دردونه راځي کله سردرد کوي او کله پښې کله غاښ په درد وي او کله سترګه **وعلی هذالقياس** يعني دا ټول زحمت او رنځ د بدن په اثردی. کله چه د روح او بدن په مابين کښې ارتباط خلاص شي هلته نو د دنيا ټول زحمتونه او تکليفونه خاتمه پيدا کوي او يو بله د حيات او ممات سلسله جوړيږي. په دا حقيقي حيات او ممات کښې بايد د دې ځني انکار ونه شي چه د دې دنيوي حيات عملي تأثيرات اواغيزه لري او د دنيا ښه او بدکار او عمل رنګ کار ورکوی.
3 - که سړی په داخيال کښې وي چه مرګ نقصان دی او ټول کمالات محوه کيږي نو دا دې د دوا د پاره په ياد لري چه مرګ متمم د کمالاتو دی. نه ما می د کمالاتو وروسته د مرګ ځنې سړي ته د کمال ثواب ورکول کيږي او د ابدي حيات د پاره موجب او علت کرځي.
«**الدنيا مزرعة الآخرة**» دنيا ځای د کښت د اخرت دی. نو که سړی کښت وکړي دا کښت او فصل ئې په پوخ والی راشي دا وخت به آيا سړی خفه کيږي نه بايد سړی خوښ وي چه اوس به د زحمت نتيجه او ثمره اخلم بايد سړی کوم چه په صداقت او ايمان وجدان ئې د ژوند دقيقې او ثانيی طی کړي وي. د مرګ ځانکندن په وخت کښې ډير خوښ او د الله پاک د حقو وعدو اميد ولري.
4 - دا چه په دې باندې سړی ويريږي چه اولاد او متعلقين به يې وروسته د ده د مرګ ځينې په زحمت او تکليف شي. زما په عقيده چه داسې خلک په خپل عقل او معلوماتو کښې نقصان لري.
يو عاقل او باعمله سړی بايد ديته فکر وکړي چه آيا انسان په اصل کښې څه وو او بيا څنګه شو؟ د انسان د پيدايش ځيني نيولي د رشد تر مرتبې پورې چه کوم تغييرات او تبدلات سړې او تودې پيښيږي دا ټول حالات سړي ته دا ښئي چه انسان د فکر او تعقل ځيني بيرون يو داسې مقتدرحکيم، خلاق الکل مربي او تربيه کوونکی ذات شته دی چه هغه په خپله د موجوداتو د هرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرې انتظام کوي او واقعاً مربي او تربيه کوونکی دی نو د سړي د اولادې او متعليقنو سبب الاسباب پاک الله دی.
هو ډير کرته ځني خلک په حيات کښې د خپلو اولادونو او متعليقونو تربيه نه شي کولی او سره د دې چه عالم او فاضل هم وي او ډيرې منډې او رامنډې او هلی او ځلې هم کوي. بيا هم هيڅ په لاس نه ورځي او دخپل اولاد او متعليقينو تربيه ترې خرابوي.
ډير کرته يو سړي سره د ډير مال او ثروت ځني ټول متعليقين ئې بې علمه او کماله پاتې شي او کله بيا په زيړو زيړو سترکو ورته ګوري چه زوی او ورور او خپل او خپلوان ئې د مرګ په حالت کښې د حيات سره وداع کوي.
که په مال او په ثروت باندې د اولاد د پاره چا حيات او يا په عقل او فکر باندې د اولادوځني چا د مرګ دفعه کولی شوه نو دا چه سړی په اولاد باندې ويريږي نو دا رنګه خلک دې اول په مال او عقل باندې که نر وي د خپل ځانه ځني د مرګ دفع وکړي. نو معلومه شوه چه سړی بايد د مرګ ځني ونه ويريږي.
5 - او که سړی د مرګ ځني د خپلو بدو اعمالو په اثر ويريږي نو توبه دې و کاږي او کوشش دې کوي چه ښه عمل وکړي.
هو دا ويره ښه ويره ده لکن هلته چه د دې ويرې دا تاثير نه شي لکه چه د پښتو متل دی « توبه د بدو او که پيښ شو حمله په بدو». که دا ويره په آخر د حيات کښې پيښيږي بيا هم تر غرغره پورې صرف په حق د حقوق الله کښې قبوله دی او سړی بايد دا په ياد ولري چه په حالت د صحت کښې با يد د خدای پاک ځنې ويره له اميده ډيره وي.
دا ځکه چه سړی کوشش وکړي چه ښه عمل وکړي او په حالت د مرض کښې به اميد بايد د ويرې او ترس ځني ډيره وي ځکه چه په مرض کښې خود سړی ځني له امله د عدم قوت او طاقت د طاعت او عبادت او عمل سلسله قطع کيږي.
6 - که سړی د دې له امله ويريږي چه مال، اسباب او د دنيا معيشت به ترينه پاتې شي دا قسم ويره بايد ونکړي ځکه هيڅ شی دايم او باقي بې ذات د واجب الوجود ځني نه شته.
د انسان دا وظيفه ده چه سعيه او کوشش به کوي چه څه په حلاله او جايز صورت سره پيدا کړي او غرض به يې داوي چه د بشر او د عالم د اصلاح او انتظام په لياره کښې به يې خرڅوم او پس د دې وروسته محترم لوستونکي دې په ياد لري چه طبعي اجل ضرور رسيږي او هيڅ مخلص ترې نشته.
يو وخت داسې راغلي او راځي به چه ښايسته ښايسته قدونه او بادامي سترکې او د ګل رنګ دا ټول محوه او نا بود کيږي او که په دنيا کښې مرګ نوی شايد د دنيا به په انسانانو باندې قدم په قدم هم نوی رسيدلی اخر هر مرکب منحل کيږي او د مرکب عناصر به يو ځل بيا انفرادي شکل ځان ته قبلوی.

**کين سيل متفق بکند روز اين درخت**
**وين باد مختلف بکشد روزی اين چراغ**

**نوټ:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مختلف باد او منقف سیل عبارت د څلور عناصرو ځینې دی چې کله په اتفاق وي او کله په اختلاف. د تل ژوندون کول امید له یو طرفه خیال او محال دی او له بلې خوا به پوه خلکو ته معلومه وي چه عمر هغه ښه عمر دی چه وجود صحیح او سالم وي سړی وکولی شي چه په صحت د وجود سره او فکر په کار واچوي او په دی اثر ځان او خلکو ته مفید ثابت شي.
کله چه وجود مخ په انحطاطه روانیږی دا وخت د دنیا ټول لذائذ او خوندونه هم د تنزل خواته قدم اخلي. تر داسې حده پورې د بدن په تنزل سره د ژوندانه خوند خرابیږی چه اخر عقل او منطق هم دلاس ځنې لاړشي ظاهري او باطني حواس د انحطاط لار طی کو او ملاکړو په غاښ وتلی سترګې بې نوره غوږونه، کاڼه، ویښته، سپین مخ ګنجي بالاخره بدن په ریږ دیدو پیل وکړي او ډیر داسې خلک لیدل شوي چه په اخر دعمر کښې یو موتې غوښه ناسته او ولاړه یې په تکلیف وي زوی او ورور او خپلوان ورسره په تنګ په ځای د دې چه ورته دوعا وکړي چه ژوندی دې وي.
وایي خدای پاک دې اوس په خیر سره فیصله کړې. دا وخت په خپله سړی هم د حیات په دقیقو کښې هر دم تکلیف او زحمت حس کوي.
ښه نو داسې حیات چه په نورو تکلیف شي او د ځان د زحمت موجب وکرځي. څوک به یې څه کړی نو ښه دا ده چه سړی به د حیات په مد او جزر کښې یوازې په یوازې همدا امید او ارزو ولري چه د ځان او د خلکو د پاره خدمت وکړي.
هو ترڅو ژوندی وي. د حیات مقصود به یې همدا وي او په حیات کې به همدا غواړي چه پاک خدای د شرف ژوند او مرګ مې په نصیب کړي کوم چه په ژوند او مرګ کښې ایمان او وجدان ته خجالت نه لرم او د ستا د رضی موجب شي او د ارذل العمر ځنې چه د ستا ګران رسول ترینه نجات غوښتي ماته هم نجات راګري.
هو سړی باید په مقتضا د « **موتوا قبل ان تموتوا** » باندې عمل وکړي یعنې باید همیش سړی په خودا مرګ ځنې داسې کاروته اقدام وکړي چه هغه ورته وروسته د مرګ ځنې په کار راشي.
افلاطون ویلي: « **مت بالا راده تحی بالطبیعه** » مړشه په ارادې یعنې د مرګ د پاره د ژوندانه په ادوارو کښې کار او خدمت وکړه تر څو په طبعي مرګ سره همیش د پاره ژوندی پاتې شي او افتخاری حیات دی په نصیب شي.
دا وه د مرګ د خفګان د علاج د پاره هغه مجر به نسخه چه د دی مرض مصابان به عمل پرې وکړل سل په سلو به جوړشي او امید دی چه عالي همت خلکو د پاره د یو تذکر په ډول یادونه وي او خپل په خپله دا رنګه ویره چه بې د نقصان ځنې کومه فائده نه لري د زړه ځنې و باسي، وسواس او واهمې ته کوم اهمیت ورنه کړي. په پوره میرانې تر څو چه ژوندی وي کار او عمل په پوره جدیت او فعالیت مخ په وړاندی بوزي او د جامعی او ټولنې هغه افراد ته چه د مرګ ویرې د دوی هر څه اختناق کړي وي، قوت قلب او هادی شي، څو دا ډول افراد د ښو خدمتونو مصدر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عالی همت:

یو د لویو صفاتو ځنې چه انسان سترو افتخاراتو ته رسوي او په هر مشکل باندې یې بریالی اوکامیابوي « **عالی همت**» دی. انسان ته د ژوندانه په دورو کښې ډیرې ډیرې، اړکې او زیاتې لانجې په مخ کښې راځي.

**هو** ولړه، تنده، بر بنډ والی، راز راز امراض او ځینی نور موانع او شیان دي چه د ژوندانه په دورو کښې هرو مرو په سړي راتلونکي دي او ناکامي او کامیابي خو یو تربله سره تړلې ده. او خلاف التوقع شیان ډیر پیښیږي، نو یواځنی شی چې د داسې مشکلاتو مخه نیسي او سړیته قوت قلب او د زړه طمانیت ورکوي هغه همدا عالي همت دی. دعالی همت خاوندان همیش د مشکلاتو په لیدنه موسکی، موسکی خاندي، ثبات او حوصله له لاسه نه ورکوی او وروسته د زیار او زحمت ځنی هر څه چه ورته پیښیږی مقاومت نه بایلي او په پوره متانت او استقامت شپې او ورځې تیروي .

هو داسې د لوړ همت شخصیتونه ګرمي او یخنی، شدت او ترخه، او خواږه ټول عادي شیان ګڼي د لوړ همت له څښتنانو سره اندازه وي، قانون لري او په صحیح او درست تدبیر او په تاریخي وقائعو سره زړه ته ډاډ ورکوي. فکر او سنجش، عقل او تمیز د ښو او بدو فرق دا د لوړ همتو خاصه ده. جدیت او فعالیت، غیرت او میړانه د حق او حقیقت د پاره جائزه مجادله په لوړ همت سره کیږي، پاک نفسي او صداقت په مخامخ او وروسته یو شا نی حال لري. د لوړ همت آثار او مظاهردي. عالی همتان په هر وخت کښې په هرټولنه او جامعه چه وي یورنګ، یو دین او یو مذهب لري.

دا رنګ خلک د لیدونکو په سترکو او نظارو کښې مختلف ښکاري نو ځکه څوک په یو ډول او څوک په بل شانې تعبیرونه ترې کوي.

د عالي همته خلکو سره هر څه شته او هرڅه لري او همدوی دي چه د خلکو د ژوندانه بیړۍ د هلاکت ځني بچوي.

**هو** دوی سرونه ورکوي او د حیات په قربانی کښې هیڅ تردد او ډیله نه لري، لکن د وطن ناموس او سرونه ساتي او د جامعې او وطن سعادت او افتخار ګڼي. مال او پیسې مصرفوي لیکن، عزت شرف او د خدای او د رسول رضا پرې حاصلوي. د لوړ همت خلک زیړ رنګ، ټیټې سترګې او د ایمان او دو جدان خجالت نه قبلوي.

**هو** دوی مال او متاع بالاخره خپل ټول موجودیت د خپل شرافت ځني قربانوي. دوی د خلکو سره محبت او الفت راشه درشته بې کومې طمعې، منافقت، ریا او فریب ځني کوي.

هو یقین دادی چه د لوړ همت خلکو سره ایمان وي او د میړانې درس یې د سر او د زړه په پردوکښې نقش وي. ریا فریب او منافقت د بې وجدانه او بې ایمانه او په واقع کښې د ټیټو او بې فهمه خلکو خاصه ګڼي او طمع او توقع یواځې د پاک الله ځني لري. دا رنګ د لوړ عزم خلک زوی او پلار، ورور او قریب دوست او عزیز او اشنا خپل او پردی د حق او عدالت په مقابل کښې یو راز ګڼي.

شخصیاتو او اجتماعیاتو فرق او تو پیر ورسره وی. د قانون مراعت له ظلم او بې عدالتی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفاع جامعي ته فائده رسول خپله وظيفه بولي او په دې لیاره کښي له مشکلاتونه خوند اخلي. په دا میدان کښي فنا خپل سعات ګڼي.

## د شهوت د افراط او غلیان علاج

شک نشته چه در هر څه د پاره یو معینه مرتبه ده چه په هغه مرتبه کښي شی، ښه ښکاري او هغه مرتبې ته پوهان د اعتدال مرتبه وايي. په دا مرتبه کښي افراطه او تفریط منفوریت عامه لري او خلک ورته د منفوریت په نګاه ګوري او دا ځکه چې انسان امتزاج کې دعدالت ځني کار اخستل شوی او د عناصرو امتزاج د انسان په حقیقت کې د عدالت مرتبه جوړه کړې. نو ځکه پوهان د افراط مرتبه چې په کې شدت او هدت دی او د تفریطه مرتبه چې په کې نقص او ضعف دی، نه خوښوي او هرڅه ته پوه انسان د اعتدال په نظریه کې خپل میلان ښکاره کوي. هو: خوراک او سکل، اغوستل، مسکن، ازدواج او داسې نور نور د ژوندانه د استراحت شیان او خوښی دا ټول ځانته د اعتدال مراتب لري چې په هغه مرتبه کښي ښه ښکاري او افراط او زیات والی یې نقصان او مرض دی چې علاج یې ضرور اوپه کار دی. همدا وجه ده چې پوهان د دی مرض د علاج د پاره تجربې کوي او په لاندی ډول سره د مرض اقسام و علاج ښیی:

1 - که د شهوت افراط له امله د حرص په ماکولاتو او مشروباتو کې وي یعنې دا چه سړی له ډیره خونده اخستلو دښولذیذو خوراکونو او سکلو ځني اخر داسې نیشه او پرکاله شي چه شپه او ورځ په همدې فکر کې وي چې د خولې د مزې د پاره او د ښځ دغت والي له امله روا وي او که ناروا څه پیدا کړي او همیش شراب او کباب د خلکو د وینو او غوښو ځني ځان ته تیاره وي او د عاجز او غریب او د وطن او د خاورې غمه ورسره نه وي، خپل عزیز وخت کوم چې سړي په کې کولی شي چې د جامعې او ټولنې د خدمت د پاره کار وکړي. په چتی استراحت تیروي او همیش یې آئینه په لاس کې د خپل رنګ او روغن ننداره کوي. دا مرض واقعاً چه هرڅو مره د جامعې په افرادو کې سرائیت کوي هغومره د ترقي، تعالي او نهضت د پاره مضر تشخیص شوي نو ځکه پوهان وايي چې د دې مرض لرونکي خلک دې دعلاج د پاره دا نسخه یاده کړي چې ماکولاتو او مشروباتو په خباثت او رزالت کې دې فکر کوي چې آخر څه ترې جوړیږي او اعتماد په دې کې شته او که نه؟ دادې په فکر کې راولي چې که په داسې استراحت ځان عادي کړم آخر د دنیا وضعیت خو په یو قرار نه دی، یو وخت به داسې راشي چه دا شیان به راته نه پیدا کیږي نو به هلته بیا چې زه په داسې نرم او ګرم سره عادي شوی یم را باندې د ژوندانه ساحه تنګه شي او بل ته محتاج او حیران یم او نن چې زه په حل د عاجزو او غریبو خلکو ځنې بې پروا یم سبا که دا ورځ په ما او یا زما په شیرینو خواخوږو راشي، څه به کوو.
سړی باید دا فکر ته راولي آیا که وطن او جامعه تیته او پرکه شي او دا زما استراحت به راته پاتې شي او که نه او سړی یو وار دیته هم متوجه شي چې زه ولې دومره د هرڅه ځني غافله یم او یو قسی القلب انسان را نه جوړ شوی نو به په دا تصور کې آخر دې مرحلې ته ورسیږي چې دا خو استراحت له کبله او په خوراک او سلګو د حرص له امله را پیښه شوې له بلې خوا سړی باید ځیر شي چې خلک د علم او فضل او د عزت او احترام خاوندان شول، دنیا نن مخ په آسمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

روانه شوه د سیندونو مخه نیسي، غرونه سوري کوي د کلو کلو مزلونه په ډیره لږ موده او استراحت سره طی کوي. حس د جهانګیري د مقتدرو خلکو په مغزو کې ننوتلې او زه یوازې د ځان په ماحول کې هیله بیله د خوند او شخوند غمه کوم. آیا انسانیت دا دی او که بل څه؟ نو که انسانیت دا وي د حیوان او د انسان په منځ کې فرق څه شو؟ له بلې خوا سړی باید دیني او مذهبي ارشادات او د نوابغو او ائمه ؤ د ژوندانه کار نامې دا ټول مطالعه او د عمل لاندې را ولي.
هو افراطه په الکهول او شراب کې حکماء وایي چې د ډیرو امراضو سبب او علت کیږي.
دفارسي متل دی: « **کم بخور همیشه بخور**» حضرت رسول صلی الله علیه وسلم فرمایي:
**«کلوا *في بعض بطنکم*تصحوا»** خوری په بعضې ګیډه کښې. یعنې ټوله مه ډکوئ چې صحت مو کامل وي. په بل حدیث کې راغلي **«البطنه رأس کل داء»** ګیډه سر د هر مرض ده.
2 - که حرص د مني د شهوت له امله یعنې د ښو ښایسته ښځو له وجهې وي دا هم چې افراط ته ورسیږي زیات نواقص لري او سړی ځنې یو فاجر او فاسق سړی جوړیږي. په نتیجه کې ضعف د بدن او فساد دعقل راولي او دا ځکه چې مني یو جوهر دی. په انسان کې چې قوام د وجود په دی سره راځی تر داسی حده پوری اطباء وایي چې د اندازه ځنې زیات مصرفول د شهوت نقصان د عمر هم کموالی راولي. د یو حدیث شریف مضمون هم په دا ډول دی:
**نوټ:**
مراد د نقصان د عمر ځنې مؤقت اجل دي. له بلی خوا ډیرداسې خلک شته کله چې د شهوت په حرص کې ولیدلې نو بالاخر ټول شته او موجودیت مال او پیسې ترینه د لاسه ځنې تلې دي. امام غزالي علیه رحمت فرمایي چې حرص په شهوت کې په مثل د ظالم حاکم دی چې باچا ورسره په خپل اختیار پریښي وي. آخر دا ظالم حاکم د بدو استفادو له امله د رعیت ټول مال او پیسی په غدراو رشوت سره ځانته جمع کړي او خلک د فقر او عجزپه میدان کښینوي او دولت ټول مال او پیسې په غلطي او خیانت سره تس اونس کړي چې هیڅ نه د ملت او نه د حکومت په درد وخوري .
همدا رنګه که د شهوت قوت د عقل په حکومت سره مغلوب نشي د بدن ټول صالح مواد او اخلاط چه د خوراک ځنې پیدا شوی دي. د حرص له امله بیځایه مصرفیږي او د بدن ټول اعضا د ضعف او کمزوری سره مخامخ کوي او که دعقل په حکم سره او د عدالت په قسم سره په مناسب د اندازې اقتصاد وکړي دامثال د هغه حاکم لري چې دخلکو سره د عدالت په لیاره روان وي او د مملکت په مصالحو کې سعیه او زحمت وګالي. د وطن ترقي او تعالي یې په خپل خیال او اراده او عمل کې وي او د وطن سرحدونه او بندرونه ښه ساتي. دا وه د امام غزالي ( رح) نظریه. نو سړی باید ښه پام وکړي او متوجه شي چې شهوت ترې د اندازې ځنې تجاوز ونکړي.
دا چې ځنې خلک حلاله ښځه په کورکې لري او بیاهم د حرامو او نا رواو شهوت پسې هڅه کوي، ددې د پاره به خدای پاک خبر چې زما دا وینا تاثیر وکړي او که نه؟ لیکن زه خپل مسولیت پورته کوم، نو ځکه دا رنګه خلکو د پاره وایم چې حلاله ښځه په خپل کور په مثال د یو مهیا طعام دی. لکه طعام چې ولږه دفع کوي همدا رنګه که یو سړی د حلالې ښځې استفاده کوي د شهوت د غلیان دفع پرې راځي. که یو سړی په خپل کور کی طعام د کفاف په اندازی لري او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هم کور په کور ګدایي کوي نو دا ډیره د حیرت او د کم عقلی خبره ده. په همدې قیاس سړی ویلی شي که څوک حلاله ښځه په کور کې لري او حرامو پسې سیعه کوي غټه لویه ګناه او رزالت دی. ما د یو پوه تجربه لرونکي سړي څنې اوریدلي چې داسې خلک مې لیدلي دي د بل چا د ناموس پسې ګرځې بیا چې تحقیق وشي دده د ناموس پسې نور ګرځې.

د بلې خوا حکماء وایي چې په زنا سره اکثراً امراض پیدا کیږي.

هو په حدیث شریف کې داهم راغلي چې د زنا په سبب سره د عمر او رزق څنې برکت ځي.

په زبور شریف کې لیکل شوي چې ډیره بلا په زاني را مسلطه کیږي چې د رزق برکت ترې محوه کیږي. د شهوت په حرص کې آخر سړی دې مرتبې ته رسیږي چې له هر څومره د ډیرو ښځو سره وصل شي او فرضاً چیرته کومه یوه ترې پاتې وي دا خیال کوي چې په دې کې به یو لذت وي چې په نورو کې به نوي او دا خیال د سړی یوغټ جهالت دی. که سړی وکړی شي چې په اعتدال سره د شهوت څنې کار واخلي نو به د دې مخکینو مفاسدو څنې په حفظ کې پاتې شي.

## اوس به راشو دیته چې عشق په دوه قسمه دی:

یو بهیمی یعنې حیواني عشق. دا عشق عبارت د دی څنې دی چې له امله یې د استیلا د شهوت څنې سعیه او کوشش کوي چې د یو شخص زړه یا په مال او یا په کاذب محبت لاس ته راولي او خپل بهیمیي شوم مقاصد په نا جایزې لیارې ترینه حاصل کړي. .دا قسم عشق ته پوهان دچار پایو عشق وایي.

صحیح ماغزه دا قسم عشق په علمي، فني او حقیقي عشق بدلوي. دوی انسان په بشپړه توګه مطالعه کوي او د مطالعې، کار، عمل او اصلاحي خدمت د کولو په واسطه دا بهیمي رابطه او د لهو لعب له حالته ایستل او حقیقي لورې ته د جهت ورکولو مرسته او مساعدت کوي.

اطباءوائي په چا کې که دا قسم فاسد عشق پیدا شو کوم چې غړوندي د کنترول او د شهوت د عقل د اقتدارنه لاړو، دوا ئې داده چې د بدن د مهیجه ؤ موادو علاج دې په ادویه ؤ مطفیه ؤ سره وکړي.

او د دویم قسمی عشق حقیقي عشق دی. دا عشق ته پوهان د کار او عمل او د اصلاح او خدمت او رحم او عاطفی عشق وایي.

دا عشق د ایمان او وجدان محکمي او تقویه راولي.

دا رینتنی عشق هرڅه ته غواړي چې د حقیقت په نګاه وګوري.

دا عشق د شرعي او مذهبي احکامو زیات لحاظ کوي او سړی په دا فکر کې اچوي چې صراط المستقیم د څه څنې عبارت دی.

حقیقي عشق کله د مجازي عشق څنې پیدا کیږي او پوهان د ظاهري عشق څنې معنوي عشق ته ترقي کوي. د دنیا په ټولو موجوداتو کې د عشق اسرار موجود دي او په همدا عشق سره موجودات ښکته او پورته کیږي. دنیا په عشق سره اباده ده او آخرت په عشق سره حاصلیږي.

د عشق خاوندان د خاوری او وطن او د قام او قبیلې سعادت غواړي او د بشر د ارامی او استراحت د پاره زیار او زحمت باسي. کوم هغه اشخاص چې عشق لري کار او عمل کوي.

د شرافت او غیرت او میرانې ژوند خوښوي. لټي او تنبلي د بې عشقه خلکو کار دی. په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د عشق اور بدن په حرکت راولي او په سختو مشکلاتو او تکليفونو کې همدا عشق د زړه ملهم کرځي.
د عشق په سر شاره فضا کې عاشقان اولوزي. په خپل عشقي حرکت کې چې کامياب او بريالى شي، نو دنيا روښانه وي او تاريخي مفاخر حاصلوي. خلک د ده په تاريخ وياړي او دده د حيات وقايع د نورو د پاره درس او عبرت وي. داسې اشخاص که په بعضى مواردو کې ناکاميږي خو بيا هم دحقيقي عشق خاوندان يو بل شاني لذت حس کوي او په ناکامي حالت کې هم وايى:
**عاشقی را درد بدنامی خوش است – عاشقان را سوز ناکامی خوش است!**
مقصد دا چې حقيقي عشق ښه دى. د شهوت د حرص په شمار کښې نه حسابيږي کوم هغه اشخاص او ځوانان چه د شهوت په مذموم صفت سره موصوف دي دا رنګ خلک دې زما پدې ليکنه کښې مطالعه او تعمق وکړي او پدى وسيله دې د خپل مرض علاج وکړي.

## د ځوانانو د پاره:

بهيمي عشق او په شهوت کښې افراطه اکثره د ځوانى په مرحله کښې زيات پيښيږي نو ځکه غواړم چه لاندې د دې عنوان ځنې د ځوانانو د پاره څه د نصيحت په ډول وليکم.
د پښتو متل دى « **د ځوانۍ يوه نيشه وي نه چه هميشه وي**» حقيقت دا دى چه سړى ته د وړکتوب ځنې نيولې تر مرګه پورې مختلف ادوار په مخه راځي او د ژوندانه په مد او جزر کښې کله صحيح او معقول حرکات د سړي ځنې صادريږي او کله غلط.
د حيات په ادوارو کښې د انسان ابتدائي حالت ته چه ګورو د زانګو او دخاپوړو قيصې او هغه وړې وړې سلګى چه اطفال ئې د مور په مفارقت کښې تيروي په ياد راوړو او د وړکتوب حالت ته ښه متوجه کيږو او بيا د وړوکي ضعيف او کم زوري نري، نحيف وجود ته ګورو کوم چه وړوکي په هغه حالت کښې هيڅ طاقت او قدرت نلري او دومره نه شي کولى چه د ځانه ځنې مچ قدرې وشړي او په دا سلسله کښې دوړوکي ژړا او ها للو، للو او نورې وړې غټې جملې، خيال او چورت ته راولو سړى په تعجب کښې اچوي او ناڅا په به ئې دا د خولې ځنې ووځي چه انسان لاڅه يو تماشا حيوان دى بيا کله چه د کورنۍ تربيې په اثر ورو ورو غټيږي او خپل ځان او مور او پلار پيژني دا وخت هغه نخرې، خطاګاني او نا پوهى چه د وړوکى هلک ځنې بروز او ظهور کوي په ريښتيا که د پلار او اقرباو مينه او محبت ئې حامي نه شي نو دا نشو ويلى چه يو وخت دې په وړوکي باندې داسې حالت راشي چه دې په خپل خير او شر پوه او د علم او زده کړې په اثر دې نابغه او مقتدر شي.
هو واقعاً چه د پلار، مور او خپل او خپلوانو محبت او د انسانيت روزونکو اشخاصو د انسانيت عاطفې دا وکړه چه يو هلک ئې ديته اماده کړو چه د مکتب او د استاذ په تربيې سره ئې د جامعې د خدمت پاره تقديم کړل د وړوکي د پاره دا په خيال کښې وه چه دا به يو وخت په درد و خوري، د مټ او عقل په زور به مشکلات حل کوي.
يو وخت به داسې راځي چه همدغه کم کوټى وړوکى نيا لګى به غټه ونه وګرځي او د سيوري لاندې به ئې د جامعې او د وطن لمر وهلي کسان راغونديږي او د دوى شاو خوانه به ئې ميوه حاصلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ای هغو کسانو چه د ستاسو د تربیتي د پاره یو عالم ارزوګاني خلک لري نو ای د جامعې د باغ او بڼ ګلانو کوم چه د ستاسو تخم ملیار صاحب د ستاسو د هستی او ځوانی د پاره کرلي وه، لړ فکر او تعقل وکړي او دا د ځواني نیشه او کیف کوم چه خدای پاک د ستاسو نصیب کړي او ښه رنګ سم قد د کار ماغزه د وجود قوت د ستاسو روزي شوی بیځایه مه مصرفوئ.

بیاهم وایم چه فکر وکړئ او وچ او لامده سره مه یو ځای کوئ. د ځوانۍ دوره د کار او فعالیت دوره ده د افتخاراتو د کټلو وخت دی.

نو ای ځوانانو خپل قیمتي وخت باید عبث نکړئ. د علم او د فن زدکړې دپاره دا د ځوانۍ عصراو زمانه غنیمت و ګڼئ او پام کوئ چه خطاوې و نه کړئ. خپل ځلانده تاریخ په بدبختۍ بدل نکړئ. دا ځکه چه دا وینا ستاسو چه وائي « د ځوانۍ یوه نیشه وي نه چه همیشه وي.» مسؤولیت نه پورته کوي.

خلک وائي چه هرشی چې خام وی پخیږي او سړی چه یو وار خام شي نو بیا نه پخیږي او د همیش د پاره خلک ورته چه خامو سترګو ګوري.

ای ځوانانو د ستاسو قوت د اباسین څپې وهي او د وجود وینه مو ډیره توده او ګرمه ده. د ستاسو د ظاهري حواسو قوت خو عقل او فکر د فعالیت ځنې غورځولای شي. نو دا چه تجربه مولږه ده او زور مو ډیر دا لازموي چه زیات احیتاط وکړئ او د حوصلې او ثبات ځنې کار واخلي خپله دقت وکړي او د بل پوه وروړځنې استثاره وغواړي او په کراتو مراتو سره بیا بیا تواریخ مطالعه کړي او هلته پکښې رنګارنګ وقائع اوقصې اوعبرت راوړونکي صحنې وګورې او د اخلاقو کتابونه، درسونه، مذهبي هدایات او ارشادات یاد کړي.

ځوانان دې دا په یاد ولري چه کار یوازې په بدني قوت نه اجرا کیږي فیل، او اوښ په حیواناتو کښې ډیر غټ دی او د ځمري غوندې قوت نور سا کښې نه لري، لکن بیا هم ګوره چه دوی د عقل او فکر په لومه کښې بند دی، هیڅ حرکت ترې نشي کولی.

د هوا مرغان په هوائي فضا کښې الوزي او ډیر په سرعت سره مزلونه قطعه کوي لکن سره د دې د صیاد په عقلي قفس کښې د دانې او د اوبو له غمه زیږې سترګې هرې خواته اړوي نو معلوم شوه چه هر څه عقل کوي او عقل د سیندونو مخه نیسي او په الوتکه کښې د شرق او غرب د کلو کلو مزل په لږه موده کښې ښه په استراحت قطعه کو او د عقل او فکر په رڼا سره ډیر پیچیده مسایل حل کیږي کوم هغه جوامع چه د عقل په اهمیت او قدر پوه دي د هغوی په نزد عقلاء ښه ښکاري او په هر قیمت چه وي د خپل عقلاو وخت نه ضایع کوي او د عقل مخه نه نیسي او په دا عقیده لري چه د بې عقله دوست ځنې هوښیار ښه دی او د هوښیارانو په نزد دښمن کومه معنی نه لري او نه دا منلی شي چه د افکار و په بدلون کښې دې اختلافي مسایل لیاره د حل هیڅ قبوله نه کړي.

پوهان لکه د خپل ځان غوندې پوهان خوښوي او پوهان په ځان غوندوي او د هغوی خطاوې عفوه کوي او په پاک ضمیر سره ترې کار اخلي .

پوهـان هغه دی کوم چه خلک د دوی پوهه ومني او په غیاب کښې ورته خلک پوه وایي او دی وکړی شي چه د پوهې په قوت د پوهانو کارونه وکړي نوي ځوانان دې په دا پوه شي چه کبر او غرور او بې احترامي او منافقت او دوه رنګي او د خلکو غولول د دوی اهمیت او منزلت کموي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او شرافت ئې داغي کوي دروغ او غدر او خيانت د دوی د اعتماد د پاره ښه رول نه شي لوبلوی.
ښه نوای ځما ګرانو ځوانانو او ای د جامعې او د وطن د کار او عمل ځلمیو د ستا سو سره خو زمونږ يو عالم ارزوګانې دي او د ستاسو د ځوانۍ دوره خو زمونږ د امید محصول وه نو تاسو چه داسې کوي چه بې د ځانه ځنې نور هیڅ نه وینې او یا په يو عالم غرور کښې ځان هم نه پیژنې او خپل خور د لیاقت په خروار حسابوي د ډیر تأسف ځای دی زما په عقیده چه دا خوشې تظاهرات او بې ځایه پوچې ویناوې چه کومې باید د دغو ویناو په عوض خپلو اظهاراتو ته د عمل جامه ورواغوندې تر څو په جامعه کښې د ځوانانو څخه دا هیله او امید واري تقویه شي چې.
ای ځوانه د ځان د پاره د اخلاقو نمونه شه د کار او فعالیت ځوان د اعتماد او د انسانیت ځلمیه ، د افتخار پانګه د اباؤ او اجدادو یادګاره د جا معی او د وطن رڼا د افغان د خاورې حافظه د پوهانو شاګرد او د ناپوهانو استاد او لیار ښوونکی شه او بس.

## قناعت څه معنی لري؟

ټول عقلاء متفق دي چې د انسان د پاره يو د لوړو اوصافو ځنې قناعت هم دی. د دې صفت د استحکام له امله له يوې خوا د قرآن پاک ارشادات او د احادیثو هدایت او د سالکینو او پوهان کوشش او له بلې خوا د قناعت غلطه تعبیرونه او د خلکو بیا د قناعت په پرده کښې ناوړه استفادې سړی دیته مجبوروي چه څه ناڅه د علمي قوت په رڼا محترمو لوستونکو ته د حقیقي قناعت معنی واضح کړي.
زما په عقیده چه په بعضې مسلمانانو کښې همدا د قناعت معنی نه پیژندل او له بلې خوا په قناعت سره خلک غولول يو د هغه اسبابو ځنې دی چې د مسلمانانو د بیر ته پاتې کیدو غټ علت شوی دی.
قناعت دیته نه وائي چه سړی به کار ونه کړي، زحمت به نه باسي، لاس په زنې به په کونج اوصومعه کښې ناست وي او د خلکو په شا به پیټی وي نور به ګټې او دی به ئې په خیانت سره خوري.
هو دیته قناعت نه وائي، دیته لټي او بیکاري وائي، ځکه چه قناعت د خیانت رنګ نلري. نو که سړی په خیانت باندې د قناعت پرده واچوي او خلکو ته په مکر او حیلې دا وښي چه فلانی خو قانع سړی دی، باید چه د ده سره معاونت وشي او په دا وسیله ځان مستریح کوي دا قناعت نه دی بلکه غټ خیانت دی.
حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائي چه د زحمت او تکلیف د ځان او لاس ځنې دې خوره.
قناعت داهم نه دی چه ته به زحمت باسې، تکلیف به ګالې، ښه کار به کوې او د هر چانه به دې د عقل قوت او فعالیت ډیر وي لکن د دې کبله چه ته بوټ پاکي نه خوښوې او مداحي در ته ښه نه ښکاري نو څومره چه ته د غټ اجر لایق ئې بل به په تا باندې هیڅ پروا نه کوي او داد هغه پروا نه کول به د ستا د پاره څه چه د جامعې د پاره هم مضر وي. نو په دا وخت کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه د خپل حق اظهار نشي کولی. دا قناعت نه دی دا جُبن او لتي ده. دا قناعت نه دی چه هرڅه به لرې لکن د بُخل او حرص له امله به ئې نه په خپله خورې او نه ئې بل ته ورکوې او په دې خوند اخلي او فخر به کوی چه دا زما ده او دومره څه لرم.
ما ډیر خلک لیدلي چه سره د غنې هستي د یو عاجز فقیر همت ځني دی زار او قربان شي.
قناعت دیته وائي چه کار به کړې، زحمت به گالي، په خپل لاس او د متې په قوت به په حلالي او د جائزې لیارې څه د ژوندانه او حیات د پاره توښه پیدا کوې. نو که سره د زحمت ځنې پوره د حیات کفاف دې نه شو موندلی او یا د بل بډا په شائې مستریح نه وې نو به په خپل سوکړک او جواري قناعت کوې او د بل مال ته به سترگې نه پټوې.
رحمن بابا وائي:

**قناعت مې هسې خوند په خولې کښې کیښود**
**چې وچ ټوک مې په دهن کښې انگبین شو**

هو که سړی په روا او جائزو لیاری زحمت باسي لکن سره د زحمت نه څه په لاس ورنشي دلته نو د قناعت معنی هم داده چه په غلا ، قمار، رشوت، احتکار او په نورو نا جائزو لیارو به تشبث او لاس نه پوری کوې. قناعت هم دا دی چه همیش به د ځان اود خلکو د آرامی د پاره گټه او کار کوې او په خپل مال او پیسو کښې به د عاجزانو او غریبانو د حقوق لحاظ هم ساتې.
هو هغه پوه او پوره قانع سړي دي چه سره د مال او پیسو ځني د جامعې د خیر او فلاح لپاره کار کوي او په خپل مالي قوت سره اصلاحي مفاخر پیدا کړي. یعنی د مال لرونکي انسان د پاره د قناعت همدا مخکی نښه او علامه ده چه څه مال به په اصلاحي لیارو کښې صرفوي نه دا چه نور به هم پسې حرص او بې فائدې جمع کول کوي.

**موږ به نشي هیڅ سړی بې قناعته - که ئې خونه وي په زرو په سیم ډکه**

په زدکړې او تعلم تر قناعت ځني معقول حرص ښه دی داو د قناعت حقیقی معنی چه د ښه کار او زحمت په اخر کښې به سړي ترې فائده اخلي او دبل دغولو لو د پاره به ئې نه استعمالوي او خپل اصلاحي حقوق به د قناعت په غلطی معنی بل ته نه پریږدي او په علم کښې به چه څومره ئې دلاسه کیږی د خلکو د مفاد د پاره به نور هم زیات والی کوي.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مطالبو فهرست:


| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| 1 | سریزه | |
| 2 | د بشر سعادت په څه کښې دی؟ | |
| 3 | دقهراو غضب علاج | |
| 4 | د زړه سوړ والی | |
| 5 | غفلت | |
| 6 | د حیرا نوالی علاج | |
| 7 | زه باید څه وکړم | |
| 8 | د بسیطه جهل علاج | |
| 9 | د مرکب جهل علاج | |
| 10 | پیژندنه | |
| 11 | د سعادت معراج | |
| 12 | د دنیا مؤفقیت | |
| 13 | د ویرې علاج | |
| 14 | د مرګ د ویرې علاج | |
| 15 | عالي همت | |
| 16 | د شهوت د افراط او غلیان علاج | |
| 17 | د ځوانانو څه د پاره؟ | |
| 18 | قناعت څه  معنی لري؟ | |


## دنجات اوکامیابي لیاره دعلم او فلسفې له پلوه !


**دوکتورمحمد سعید « سعید افغانی »**



**کال :1354 هجری شمسی**

**دوهم چاپ**

**دحق د لارې کلتوري مرکزجرمني – د 1395 هجري شمسي کال**

**د حمل – ورى میاشت (۲۰۱۷ زیږدیزکال د اپریل میاشت)©**



پته saidafghani@hotmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**